# ته چې راغلې پسرلې شو



رفیق یوسفزے

ته چې راغلې پسرلې شو

رفیق یوسفزے



کۀ هر څو خوږې پستې خبرې وائي
پۀ واعظ مې نور اعتبار پۀ ختمېدو دے
چې رفیق د مېخانې نه ترے لاړو
راته ښکاري چې خمار پۀ ختمېدو دے

ښاغلے رفیق یوسفزے د بره دیر کاکړ کلي واړي‌سیمې وسېدونکے دے. پۀ کمپیوټر سائنس کښې شپاړسم پاس دے. او ننن سبا د اعلی تعلیم د پاره پۀ ولایت کښې مېشته دے. د کال ۱۹۹۷ راسې شاعري کوي. دا ئې وړومبے ټولګه ده.

یاره رنګیني خو بس د کلي رنګیني ده
خوند نۀ کوي دلته مازیګر پۀ ښاریه کښې
څه چې څو د دیر پۀ ښکلاګانو به دې موړ کړم
ناست به وې رفیقه زوروور پۀ ښاریه کښې

د کلي والې مینې، د فطرت د ښکلا، د قامیت او مقامیت او د نوو حالاتو د جبر پۀ رنګونو د خپل شعر ناوې لۀ سینګار کوي. ډېرې پاکې، صادقې او مستې جذبې ئې د کلام نه را څاځي. د فکر او فن د سمندر دا نوے لامبوزن د هنر پۀ بې پاياوه چپو کښې بریالی لامبو وهي راون دے. هیله ده چې د فن د سمندر یو زیرک او پیاوړے لامبوزن شي. خو هر کار محنت او وخت غواړي. انتظار به کووچې زما د خاورې، او زما د ژبې یو بل خوش بیانه طوطي د پښتونخوا پۀ سردرو وچغېږي.

کتاب را واخلم ستا پۀ یاد کښې ډوب شم
جوړ دې صفحو کښې تصویرونه ښکاري
واه واه ئې هر وختې د خلې نه خیژي
رفیق ته ستا د حسن شعرونه ښکاري

**اباسین یوسفزے**
**چئیرمین پښتو څانګه**
**اسلامیه کالج پېښور پوهنتون**
**۳۰ جولائي ۲۰۰۷**

اعراف پرنټرز
091-2580006
0312-5945568
aarafprinters@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحیم

www.pukhto.net

| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | تهٔ چې راغلې پسرلے شو |
| دَ شاعر نوم | رفيق يوسفزے |
| ايميل | rafiq.yousafzai@yahoo.com |
| دَ اوسېدو ځائے | بره دير |
| تعليم | ايم ايس کمپيوټر سائنس<br>ايم ايس پراجيکټ منيجمنټ<br>(UK) |
| کمپوزنګ | وسيم عباس خان<br>(00966535652092) |
| پروف ريډينګ | خيام يوسفزے |
| سرپاڼه | خيام يوسفزے |
| تعداد | ۵۰۰ |
| چاپ | دويم ځل |
| اول چاپ | ۲۰۰۷ ء |
| بيعه | ۲۰۰ |
| پريس | اعراف پرنټنګ پريس |


...........

## دَ شاعر نور چاپ کتابونه

پهٔ اورونو کنبې ګُلونه — شاعري ۲۰۰۹ ء

# تړون

دَ خپل خوږ پلار او خوږې مور پهٔ نوم دَ چا
پهٔ عظیم تربیت چې زهٔ نن سړے یم او دَ چا
پهٔ دُعاګانو چې زهٔ نن پهٔ دې ډګر ولاړ یم

❀❀❀❀

# دَ ښاغلي رفيق يوسفزے فکر و فن زما پهٔ نظر کښې

ـه

ستوري دَ اسمان دي هم ځليږي پهٔ درياب کښې
ښکارې مې الله راته پهٔ شپه کښې پهٔ مهتاب کښې

ـه

ربـه زهٔ حيـران يمـه سـتا واړه قـدرتونو تـه
حُسن او خُوشبو چې دي يوځائے کړه پهٔ ګُلاب کښې

ښاغلے رفيق يوسفزے هغه خيالوے ځوان شاعر دے چې خپل ځان ئې پېژندلے دے خپل ايمان ئې پېژندلے ، خپل رب او دَ رب شان ئې پېژندلے ، ځکه خو هغه کهٔ دَ ځوانۍ دَ رنګينو پهٔ ټال ځانګي نو هم پهٔ دغه جوټه جوټه نشه نشه کيفيت کښې هم

خپل حقیقت او دَ خپل رب معرفت نهٔ هېروي زما یو شعر دے
چې ....

زهٔ دَ هــر مــرض دوا ، دُعــا ګــڼم
خدائے بـه یـادوُم دلبر بـه غواړمـه

دغسې ښاغلے رفیق یوسفزے هم ډېر پـهٔ ښکلي انداز
کښې دَ خپل زړهٔ مدعا پهٔ دې ډول بیانوي چې .......

مخکښــــې عبـــادت وکـــړه
وروسـتو پسـې سـوال ښـهٔ دے

پهٔ لنډ بحر او لړو ټکو کښې دا مضمون ځائے کول نهٔ یـوائې دَ
ښـاغلي رفیـق یوسـفزے دَ فکـر و فـن بلکـه دَ هغـه دَ ایمـان دَ
پوخوالي دلیل دے .
زهٔ ښاغلے رفیق یوسفزے دَ هغه وخت نه پېژنم چې پـهٔ پېښـور
یونیورسټۍ کښې طالب علم ؤ . زهٔ چې به یونیورسټۍ تـه چرتـه
مشاعرې له لاړم نو هلته به هم زما سره ئې لیدهٔ کاتهٔ کېده . او کله
کله به دَ ښاغلي عبیدالرحمان سره زمـونږ غریـب خـانې تـه هم
راغـے . ما چې به ئې شعرونه واوریده نو دَ ښاغلي رفیق یوسفزے
دَ ذوق ، شوق او جذبې داد به مې ورکړو. زهٔ هغه وخت پـهٔ دې
راز پوهېدلے ووم چې دَ سیمابې فطرت ځښتن دا زلمے پـهٔ
مخکښې مخکښې تلل غـواړي . پورتـه پورتـه ختـل غـواړي. او
ځان یو لوړ مقام ته رسول غواړي . بیا چې خبریدم نـو ښـاغلے

رفيق پهٔ ګورنمنټ کالج نمبر ۲ مردان کښې ليکچرار ؤ ، چې ورسره ورسره به ئې دَ پرسټن پوهنتون کښې دَ مازيګر کلاسونه اخستل او ليکچر به ئې ورکوو ۔
څهٔ موده پس ئې راته پهٔ فون وئيل چې دُعا کوه انټرويو له روان يم کهٔ پاس شوم نو لندن ته به ځم ۔ او پهٔ سبا چې ئې راته بيا فون وکړو نو دا زيرے ئې رابانديې وکړو چې دَ لندن کار مې وشو۔ يوه اونۍ پس به ځم ۔ اوس چې هغه تخميناً يو کال پس دَ لندن نه راستون شو او ما له ئې خپله دَ شعرونو مُسوده راکړه چې څهٔ پرې وليکم نو ما ته هغه طالب علم رفيق رایاد شو چې نن سبا دَ حالاتو سره جنګ ، دَ ځوانې او تاندې جذبې غورځنګ او دَ خپل مرام سره دَ سپيځلې مينې رنګ دَ لوړ مقام پهٔ کار ګامزن کړے دے ۔ او ډېر زر به انشاء الله دغه مقام راخپل کړي ۔ دَ مُسافرۍ پهٔ زاره چاؤدې چاپېرچل کښې يو خوا کهٔ هغه دَ خپل روښانه مستقبل دپاره دَ تعليم پهٔ ميدان کښې خپلو هلو ځلو دوام ورکوي نو بل خوا دَ وطن غم ، دَ جانان غم ، دَ دوران غم ، دې ټولو غمونو نه شعرونه او تصويرونه جوړوي ۔ او دغه تصويرونو له دَ خپل زړهٔ دَ وينې رنګ ورکوي ۔ زهٔ خپله مسافرۍ خوړلے يم او پهٔ دې خبرو پوهېږم چې پهٔ مُسافرۍ کښې دَ سړي جذبات څهٔ وي ؟ احساسات ئې څهٔ وي ؟ هيلې او تلوسې ئې څهٔ وي ؟ او دَ ژوند سره تړلې تقاضې ئې څهٔ وي ؟ ما ته دَ خپل زړهٔ پهٔ آئينه کښې رفيق صيب ښکاري ځکه چې زهٔ يو مُسافر شاعر ؤم ۔ او هغه هم يو شاعر مُسافر دے ۔کله چې پهٔ نازک احساس دَ پلکونو ګزارونه کيږي نو ورتې کريکې به اَرو مَرو پهٔ زړهٔ کښې ارتعاش

پېدا کوي ـ او زړهٔ چې ؤلړزيږي نو هغه ټول واردات چې دَ شاعر پهٔ نازک احساس اور وروي دَ ذهن پهٔ پړده تصويرونه شي ، شعرونه شي ـ دَ لندن مُسافرۍ دَ ښاغلي رفيق پهٔ شاعرۍ کښې نوے رنګ ، نوے اهنګ ، نوے توان او نوے شان زيږولے دے ـ دَ هغه پهٔ اندازِ بيان کښې زور هم شته ، شور هم شته ، تور هم شته ، پېغور هم شته ، اور هم شته ، تکور هم ، کور هم شته ، ګور هم ، پور هم شته ، انځور هم ، يار هم شته ، ريبار هم ، دار هم شته ، دلدار هم ، مينه هم شته ، روزګار هم ، کلے هم شته ، ښار هم ، ګودر هم شته ، بازار هم ـ چينه هم ، چينار هم ، اقرار هم شته انکار هم ـ

دَ ښاغلي رفيق دَ شعور پهٔ سپرلي کښې چې کوم شعرونه ګُل ګُل راټوکيږي هغه نظر ته هر کلے وائي ـ دا شعرونه کهٔ يو خوا دَ ژوند تراخهٔ لري نو بل خوا دَ دړد خوارږهٔ لري ـ کمال دا نهٔ دے چې يو سړے دې دَ خوشحالۍ پهٔ کيفيت کښې دَ مستۍ پهٔ ساز دَ سرور نغمه سوَره کړي ـ بلکه کمال دا دے چې سړے دَ غم پهٔ کيفيت کښې دَ درد پهٔ ساز دَ مستۍ نغمه سوَره کړي ـ او ښاغلے رفيق دې کمال ته رسيدلے ښکاري ـ دَ ښاغلي رفيق پهٔ شاعرۍ کښې رنګيني ، شوخي بې ساختګي ، پښتو ، پښتون ولي ، وعظ ، همدردي ، دَ روزمره محاورو برجسته استعمال ، دا هر څهٔ لږ يا ډېر پهٔ خپل خپل ځائے شته ـ

# رنګیني

ـه

پیغلې پُښتنې دَ غرونو سر کښې وسیدونکې یې
تهٔ دَ ښکلاګانو پهٔ منظر کښې وسیدونکې یې

ـه

بیا ئې راتلول کړه لیوني مازیګر
پرق چې دې وکړو مېخکي مازیګر

ـه

هاغه ګُودر هم لا دَ چا هیرېږي
پیغلې وي پیغلې او منګي مازیګر

## شوخي

ـه

دومره کبر ښهٔ هم لیونی نهٔ دے
مهٔ کوه اے بیا به دې حاجت راشي

ـه

هم نن ئې پهٔ تراخه انداز کښې دا ووې رقیب ته
دې شکل ته دې وګوره ، ستا سر دَ محبت دے

# بې ساختګي

ـه

تــهٔ پــهٔ آئینــه کښــې ځــان تــه وګــوره
زهٔ بــه دې پــهٔ ســترګو کښـــې ځلیږمــه

ـه

ښــکلي رانــه تــول چــاپېره شــوي دي
زهٔ یــم نظـــر پانــــه لـــوګے کیږمـــه

ـه

ډاندې ئې پهٔ زړهٔ کښې دَ رفیـق شُـو ښـخ
ټوقـو کښـې لیلٰی نـه میخکـې مـات شـو

# پښتو او پښتون ولي

ـه

خوښـه مـې دَ زړهٔ دَ حیـا ډکـه پُښـتنه ده
خلـق ئـې لا څـهٔ کـوې دا زمکـه پُښـتنه ده

ـه

دلته پهٔ هر لورې پُښتنو ګټلے جنګ دے
مونږه یُو بې قدره ، مونږ نه ورکه پُښتنه ده

ـه

پښې ئې دَ پښـتون څـادر نـه ویسـتې دي
لاړه پُښــــتنو نـــــه حیـــا ورکـــــه شــــوه

# وعظ و همدردي

ے

بې اخلاصه هر بيان دے بې مطلبه
بې عمله هر انسان دے بې مطلبه

ے

چې دَ ورور دَ درد پهٔ سرېکه نهٔ پوهېږي
بيا خو هسې مسلمان دے بې مطلبه

## روز مره

ے

چې لږ خفه شم تاله راشم اشنا
لاس چې هم مات شي ځي اکثر غاړې ته

ے

بس کړه پُښتو دې نوره مهٔ وړدوه
ياره پُښتو کښې خو پښتې ماتيږي

ے

سم دَ ماښامه مې ګرېوان وشليدو
ښېرې دې وکړې پهٔ تنکي مازيګر

دغسې نور ډېر شعرونه دي چې دَ وخت دَ کمې له کبله ما دلته رانقل نهٔ کړه ـ پورتني ذکر شوي شعرونه کهٔ زهٔ راسپړدل غواړم يا تشريح او توضيع ئې کول غواړم نو ډېرې پاڼې به ډکې شي خو

ښاغلے رفيق پهٔ منډه کښې دے ۔ پهٔ تُندئ کښې کتاب چاپ کول غواړي نو ماله ئې هم دومره وخت نهٔ دے راکړے چې زهٔ دې پرې تفصيلي ليکل وکړم ۔ دَ ښاغلي رفيق دَ غزلونو نه پرته دَ هغه نظمونه هم دَ نننې دور دَ ادب ډېرې غوښتنې پوره کوي ۔

" بېلتون " او " خط " نومې نظمونو کښې دَ جانان دَ لرې والي دَ کيفيت څرېکه څرېکه دردېدلي لحظې منظوم شوي دي ۔ او دَ خپل جانان سره دَ دې خبرې پخلے پکښې شوے دے چې دَ لرې والي او فاصلو باوجود زهٔ هغه رفيق يم ۔ تهٔ چرته بدل نهٔ شې ۔

" زما ژوند " دَ ژوند دَ تاؤدو سړو ذکر او بيا دغه تاؤدو سړو نه دَ خوند او رنګ اخستو دَ زيار يوه زړهٔ پورې هنداره ده ۔

" پښتو " کښې پښتو ته دَ سپيځلې پُښتو لاره پهٔ ګوته شوي ده او دَ دې خبرې تاکيد ورته شوے دے چې خپل روښانه روايات او کوټلي پُښتني قدرونه دَ پښو لاندې نهٔ کړئ ۔ " لعل " کښې پهٔ خيال او تصور کښې دَ مينې مختلفو کيفيتونو تذکره ده ۔ چې زړهٔ او ذهن ته اپيل کوي ۔ " رنګين ماښام " ، " ګُل " او " ارمان "هم دغسې نظمونه دي ۔ چې کهٔ يو طرف ته پکښې دَ ځوانئ دَ تال مستي ده نو بل طرف ته پکښې دَ درد څرېکي دَ بېلتون شواځُون دَ احساس ترېسکې ، دا هر څهٔ پهٔ نظر راځي ۔

" دَ مور دَ سر خط لاندې نظم زما ډېر خوښ شو ولې چې پهٔ دې نظم کښې يواځې نه دَ مور دَ پاکې سپيځلې او بې رويه بې ريا مينې څرګندونه ده بلکه دَ مور سره دَ ځوي دَ لافاني او لاثاني محبت او عقيدت اظهار پکښې هم دے ۔ او بيا نورے والے او

جدت پکښې دا دے چې مور ښاغلي رفيق له کوم تربيت ورکړے دے دَ هغې تقاضه دا ده چې ښاغلے رفيق دې دَ هغه تربيت اثر پهٔ ختِه کښې اخښلي اخلاقي قدرونه ، معشرتي روايات ، او کورنے تقدس پهٔ خپله سينه پوري کلک ونيسي ـ او دغه اوصافونه دَ سر غړونې هڅه ونهٔ کړي ـ دَ ښاغلي رفيق ځنې شعرونه به کمزوري وي ـ دَ بحر او وزن کمے ذياتے به هم پکښې وي ـ خو دا لا زلمے دے ـ جذبه ئې تانده او ځوانه ده ـ خپل مقام ته رسيدونکے دے ـ او بيا به يو داسې وخت راشي چې دے به دَ پښتونخواه دَ ادبي آسمان پهٔ ستورو کښې ځليږي ـ زما دُعا ده چې الله تعالٰی دې دَ دهٔ قلم او فکر و فن دَ ملک او ملت پهٔ خير او ښيگړه راولي ـ

آمين

پهٔ درناوي

حسين احمد صادق

۳۰ جولائي کال ۲۰۰۷

# تهٔ چې راغلې پسرلے شو
# یو تاثر

دَ ښاغلي رفیق یوسفزي دَ شاعرۍ موضوعات دَ خپلو روایاتو پُښتنې قدرونو نه علاوه دَ مینې دَ پُر کیف احساساتو نه چاپېره چُورلي ۔ ښاغلے پهٔ پوره جذبه او صداقت دَ شاعرۍ پهٔ دغه اړخونو قلم چلوي ۔ ځکه خو زمونږ دا زلمے ملګرے دَ وخت او حالاتو پهٔ ورکو سپورو او خورو وَرو عکسونو کښې دَ خپل تاریخ ثقافت ، تهذیب روایات او پُښتنې قدرونو پهٔ ژوندي ساتلو او لهٔ دغه ارتقائي سفر کښې کهٔ له همزولو لیکوالو نه وړاندې نهٔ دے نو پاتې او وروستو هم نهٔ ښکاري ۔

دَ ملګري رفیق یوسفزي قلم لکه دَ ځوانو جذبو دَ هر رنګ حالاتو او تیارو پهٔ ضد دَ ودریدو زور لري ۔ ښاغلے پهٔ دغه تیارهٔ حالاتو کښې دَ خپل فن او هنر پهٔ رڼائۍ دَ روښانه سبا وړاندې تګ لار هم ګوري او دَ ژوند دَ حادثو او واقعاتو پهٔ دوړو او شور کښې دَ خپل ورک مرام دَ لټون هڅې هم کوي ۔ او یوه جمالیاتي

نقشه هم راکاږي ـ کومه چې دَ ښاغلي زړهٔ ذهن وينې ، مينې ، پُښتو او پُښتونولۍ ته دَ سپرلي پهٔ زېري راؤړلو دَ دهٔ دَ مودو مودو ارمانو نه رژوي او دَ دې خاؤرې خوږې ژبې پُښتو او خپلې مينې دَ پاره دَ دهٔ ليدلي خوبونو تعبيروي ـ الله دې وکړي چې دَ ښاغلي رفيق دَ ارمانونو سپرلے دَ دهٔ پهٔ خاؤره پُښتو او مينه تهول عمري ډېره شي ـ او دے دَ خپلي ژبې پُښتو خپلې پُښتنې خاؤرې او مينې دَ خدمت او ستائلو دپاره هم دغه شان ژوندے او خوشحاله نور هم چمتُو او بريالے وساتي ـ

پهٔ تهوله پُښتنه مينه ـ

محمد اسرار اتل

(اشنا کور ) کلے باغِ حرم لوند خوړ مردان

نيټه ـ ۱ اګست ۲۰۰۷

www.pukhto.net

# خپلې یو څو خبرې

"تهٔ چې راغلې پسرلے شو" زما دَ شاعرئ وړمبے کتاب ستاسو پهٔ لاس کښې دے ـ نهٔ پوهېږم چې ستاسو پهٔ معیار به پُوره وي او کهٔ نهٔ ـ ستاسو نیکې مشورې زما پهٔ اي میل رارسیدلے شي ـ زهٔ دَ محترم اباسین یوسفزے صیب دَ مینې او حوصلې مننه کووم چې دوئ هر کله ما ته حوصله هم راکړې ده او داد هم ـ زما دَ تخلیقي سفر لارښودنه ئې هم کړې ده ـ دَ محترم حُسین صادق صیب دَ مینې او نیکو جذبو قدر کووم ـ دوئ پهٔ هره موقع زهٔ دَ کتاب لیک ته پارولے یم ـ او تر دې حده چې زما کتاب پهٔ چاپ کښې دَ خپلو مصروفیاتو باوجود پُوره پهٔ پُوره لاس کړے دے ـ لفظونه خو نشته خو پهٔ مینه او اخلاص دَ دې دواړو شخصیتوتو شکریه ادا کووم چې دوئ زما پهٔ کتاب دَ سریزې لیکلو سره سره دَ کتاب سرسنه هم وکړه ـ دَ ښاغلي اسرار اتل صیب ډېره ډېره شکریه ادا کؤم چې هغوئ زما دَ ژوند او فن پهٔ حقله لیکل وکړل۔

www.pukhto.net

دَ ښاغلي خيام يوسفزے صيب شکريه ادا کووم چې هغوئ خپل ضروري کارونه پرېښودل او زما دَ کتاب دَ پروف ريډينګ او سرپانړې دپاره ئې شپه ورځ يو کړل ۔ دَ ښاغلي وسيم دربار صيب ډېره مننه کؤم چې هغه دَ دې کتاب دوباره کمپوزنګ وکړو ۔ دَ ښاغلي فلک ناز مننه کؤم چې زما دَ کتاب چاپ کولو کښې ئې هر قسمه خدمت ته ملا تړلې ده ۔ دَ خپلو هاغه ښاغلو ملګرو او دَ ټولو شاګردانو مننه کووم چې زهٔ ئې دَ کتاب ليک ته پاروليے يم ۔ بس دا ورته وايم ۔

ے

**زهٔ کهٔ پردېس تهٔ غاړه ږدم ملګرو**
**پهٔ خپل وطن کښې به څهٔ خورم ملګرو**

**بغېر يارانو به څهٔ خوند وي دَ ژوند**
**زهٔ خو پهٔ تاسو پسې مرم ملګرو**

پهٔ ډېره مينه
رفيق يوسفزے

www.pukhto.net

# ثناء

ستُوري دَ اسمان دي هم ځليږي پۀ درياب کښې
ښکارې مې الله راته پۀ شپه کښې پۀ مهتاب کښې

ربـه زۀ حېـران يمـه سـتا واړه قـدرتونو تـه
حُسن او خوشبو چې دې يو ځائے کړه پۀ ګُلاب کښې

شُکر زما خدايه ستا دَ کوم نعمت ادا کړم
وَس مې دومره نشته زهٔ به څهٔ درکړم جواب کښې

وائي دې ثناء ربه مارغان پهٔ خپله ژبه
اُوبهٔ دې يادوي پهٔ خپله ژبه پهٔ ګرداب کښې

ربه زهٔ بنده يمه ستا کوم صفت بيان کړم
ډېر دې بيان شوي صفتونه پهٔ کتاب کښې

ربه ګنهګار يم خطا وار يم عفوه وکړې
ما ملامت نهٔ کړې پهٔ حساب او پهٔ کتاب کښې

بيا لکه رفيق پهٔ خپلو کړو باندې پښېمان وي
هسې سړے مَست شي دَ يو څو ورځو شباب کښې

* * * *

# نعت شريف

اُستاذ دَ اُستاذانو او رهبر دے محمد ﷺ
پهٔ واړه انبياء کښې مُعتبر دے محمد ﷺ

رڼا ئې دَ اسلام کړله پهٔ ټول جهان خوَره
تيارو دَ جهالت لره بس نمر دے محمد ﷺ

دَ هرې زمانې دَ پيغمبر خوبۍ جُدا
پهٔ واړه صفتونو برابر دے محمد ﷺ

دَ دهٔ لهٔ مخه جوړ کړو رب دا واړه کائنات
رحمت دَ کُل عالم دا سپې بشر دے محمد ﷺ

دے ختم رسالت پهٔ محمد ﷺ اخر زمان
دَ ټولو اولين هم پيغمبر دے محمد ﷺ

* * * *

## مور

زار شم زار لـه خپلې مـورې ، مـور دَ مينې علامت د ے
څهٔ عظيمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت د ے

دَ وختونـو چاپېرچـل کښــې ، زهٔ قـدم قـدم چـې ږدمـه
دَ مـور مينــه را ســره وي ، ښـهٔ ده ژونـد پـرې تېرؤمـه
نـور زهٔ هيـڅ وئيلے نـهٔ شم ، خو لـوئې غَـر دَ محبت د ے
څهٔ عظيمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت د ے

www.pukhto.net

کهٔ سیرت ته ئې نظر کړم ، که صورت ته ئې نظر کړم
څوک به داسې پېدا نهٔ شي ، زهٔ کهٔ ټوله دُنیا سر کړم
څهٔ عجبه کرشمه ده ، څهٔ عجب شان دَ قُدرت دے
څهٔ عظیمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت دے

خپل ژوندون ئې پهٔ تکلیف کړو ، خو زما ژوند ئې روښان کړو
پهٔ تیارو کښې نهٔ وېرېږم ، رڼاګودر ئې چراغان کړو
زهٔ چې څومره پرمختګ کړم ، دا زما د مور محنت دے
څهٔ عظیمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت دے

چې ماشوم ووم پوهېدم نهٔ ، خو مور پوهه پهٔ ښهٔ کار کړم
ښهٔ منزل ئې راله خوښ کړو ، نېغ روان ئې پهٔ ښهٔ لار کړم
دروغ نهٔ دي حقیقت دے ، دَ مور غېږه تربیت دے
څهٔ عظیمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت دے

زهٔ که هر څو لوئې سړے شم ، خپلې مور ته لا ماشوم یم
که هر څومره ګنهګار یم ، خپلې مور ته لا معصوم یم
ما پهٔ دواړه مخه ښکل کړي ، دا دَ وخت نه ئې عادت دے
څهٔ عظیمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت دے

ښهٔ خدمت به دَ خپل قام کړم ، خپل وطن له به څهٔ ورکړم
دین مذهب به مې راټینګ کړم ، هر دُښمن به در پهٔ در کړم

www.pukhto.net

مور مې وائې غاړه ورکړه ، که دې مُلک دے که ملّت دے
څهٔ عظيمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت دے

زهٔ بهٔ ځان نيست و نابود کړم ، خپلې مور له بهٔ خدمت کړم
مال و سر بهٔ ترېنه زار کړم ، هم قربان بهٔ پرې دولت کړم
نور عزت رفيقه څهٔ کړم ،زما مور زما عزت دے
څهٔ عظيمه ئې هستي ده ، چې ئې پښو لاندې جنت دے

* * * *

اُور دَ عشق ته چې ارتاؤ شومه پخپله
اوس مې شنې لوخړې خيژي لهٔ ګوګله

رنګ مې ځکه داسې سوے سوے ښکاري
ستا دَ حُسن پهٔ لمبو سوے يم ګُله

نن چې زهٔ ئې نهٔ منم نو ولې ژاړې
درپسې چې ژړېدم تا نهٔ منله

دَ حَيا نه ئې مخ سُور شو پُښتنه وه
پهٔ وړومبي نظر چې ما هم وليدله

چې دَ دې خلقو دَ سترګو نه پناه شُو
ځه چې جوړه يوه دُنيا کړو ځان له بله

www.pukhto.net

چې مې زړۀ ته تيلے ورته کړو شاعر شوم
اسـويلي مـې ځکـه خيـژي لـه غزلـه

اے رفيقـه پـۀ وعـدو ئـې مـۀ تېرؤځـه
وعـدې بښـکلي مـاتوي پـۀ څـو څـو ځلـه

* * * *

# منزل

زۀ دَ عشق پـۀ سمندر کښې دومره لرې يمه تلے
چې وتے ترېنه اوس نۀ شم ، دلته يمه ډوبېدو کښې

دَ زړۀ زور مې ټول اوبۀ شو ، پۀ مزلو شومه ستړے
خو منزل مې نصيب نۀ شو ، پۀ کلُونو او مودو کښې

* * * *

ښار نه پهٔ هر حال ښهٔ دے
ژوند خو کلیوال ښهٔ دے

بیا به له نظره شي
مخ باندې دې خال ښهٔ دے

ګُل چې پرې جوړ شوے وي
راکړه یو رومال ښهٔ دے

ما پکښې تالے کړه لږ
ستا دَ زُلفو تال ښهٔ دے

www.pukhto.net

ورور چې دَ ورور بدې شي
کور کښې ئې ديوال ښهٔ دے

ژوند کښې تغيُر ښهٔ وي
هجر هم وصال ښهٔ دے

څهٔ به دَ جانان وايم
نشته ئې مثال ښهٔ دے

ما وې زړهٔ به روغ نهٔ شي
شکر دے في الحال ښهٔ دے

مخکښې عبادت وکړه
وروستو پسې سوال ښهٔ دے

خوښ مې دَ رفيق غزل
شعر کښې ئې خيال ښهٔ دے

* * * *

www.pukhto.net

پهٔ سوچ کښې پرېوتم دَ شپې ورځې
مينــــه دې وکــــړه دَ يــــوې ورځــــې

چې ستا پهٔ سترګو مې نظر پرېوتو
زما هم خوښ شوې لهٔ هغې ورځې

چې پهٔ اُميد اُميد ئې ژوند تېرېدو
څهٔ شوې هغهٔ خوږې خوږې ورځې

ځان له که زهر ښمه خبر دے اشنا
پهٔ تا مې سود نهٔ شي ترخې ورځې

بغير له تا نه مې ژوند نهٔ تېرېږي
نشــــته رفيقــــه دِ مــــزې ورځــــې

* * * *

لــوبې دي مــۀ كــوه زُلفــانو ســره
خــون بــه مــې واخلــې اداګــانو ســره

خـومره اثـر دي پـۀ مـا كـړے لېمـو
مينــه كـــووم دَ قـــاتلانو ســـره
حُسن مجبور كړم ګنې ښۀ يم خبر
چــې وي ازغــي هـم دَ ګُلانــو ســره
ځان له پۀ ژوند كښې سرېتوب نۀ راځي
سړے درونـد ښـكاري دَ يـارانو سره
يــو نصـيحت درتــه كــووم رقيبــه
مــۀ چېـړه مــونږه ملنګــانو ســره
بس پكښې نشـته ساقي جام راكوه
ضــد مــې نيــوَلے دَ رِنــدانو ســره

شــعر ، غــزل ئــې وي ډالــۍ رفيقــه
نــور خــو څــۀ نــۀ وي شــاعرانو ســره

* * * *

www.pukhto.net

سترګې مې ديدن غواړي خوتاخو ځوک ليدے نۀ شي
داسې را يادېږې چې زړګے مې صبرېدے نۀ شي

دا مې دَ سحر اذان کښې نوې تپۀ واورېده
تۀ او وفا ياره ډېره ګرانه ده کېدے نۀ شي

ډک دَ ديدنونو جام مې خواته رانزدې کړه نن
دا دَ محبت تنده پۀ بل څۀ ماتېدے نۀ شي

بيا چې دَ غُربت پۀ انګارونو کښې سوَزيږمه
داسې ښۀ يم ياره چې ارمان مې راژوندے نۀ شي

ستا پۀ شان روښانه مخ رفيقه سړے ګرځي بيا
خو چې پۀ هوس او حِرص کله هم تندے نۀ شي

* * * *

ګُله یوه ورځ هم ستا پهٔ ځان به راځي
تـا بـه هـم پـانړې کـړي خزان بـه راځـي

لـږ ه پـهٔ خیـال بانـدې بلېـږه شـمعې
تالــه چــاپېره پتنګــان بــه راځــي
دَ اُوښکو ډکې شوې کاسې دَ سترګو
رُسوا مې نهٔ کړي پهٔ ګرېوان به راځي
دَ کامیابۍ پهٔ لوري تلهٔ چې غـواړې
دَ یونـه پـس بـل امتحـان بـه راځـي
زر دي اواز پـهٔ بلـۍ اوکـړه کارغــه
پـال مـې نیـولے چې جانـان بـه راځـي
پهٔ شرافت باندې پوئې نهٔ شو رقیب
زمونږ تر مئینځه اوس خفګان به راځي

دا دَ ښائست پېرے چې لاړشي درنه
دَ خپـل رفیـق درلـه ارمـان بـه راځـي
* * * *

یــو څــو قدمــه دلبــر واخلــه کنــه
چرتــه زمــونږ هــم خبــر واخلــه کنــه

راشه پهٔ دې خړ او خاؤرین کلي کښې
مینــه خُلــوص لکــه غــر واخلــه کنــه

زمــا دَ وَچــو شــونډو وَچ پاړونــه
لږ خو دَ شونډو پـهٔ سر واخلـه کنـه

نوره خوستا بې رُخي نهٔ شم لیدے
داهوش حواس رانــه زر واخلــه کنــه

یــاره دَ مینــې خزانــه ده پکښــې
مانــه مې زړهٔ او ځیګـر واخلـه کنـه

تهٔ دَ رفیق پهٔ سترګو پوهه نهٔ شوې
شــور لــه خاموشــه نظـر واخلـه کنـه

* * * *

www.pukhto.net

ستر گې دې جانانه جادوګرې دي
هم پکښې منترې هم خبرې دي

راشه زړهٔ مې يو سه ځان له ستا شولو
هر وخت دَ يار غمه ستا لښکرې دي

اوښکې مې دَ زُلفو تار کښې وَپيره
ستا پهٔ غَم توئيږي ملغلرې دي

زُلفې ئې پهٔ مخ باندې تالې وهي
سمې ئې رُخسار سره ملګرې دي

راشــه دا دَ زړهٔ زخمونــه وګــوره
دا نخښــې دَ هـاغې سـتمګرې دي

دغه دے دَ عشق اور ته دې دانګمه
خبر دے که لمبې ئې زورورې دي

پربږده اے رفیقـه پـهٔ سر نهٔ لګي
ګرانـــې اداګـــانې دَ دِلبـــرې دي
* * * *

# قطعه

دا خو دَ امـن مُحبت او دَ انصـاف زمکـه ده
ځـه دَ فسـاد تُخـم دې وکـره پـهٔ بلـه خـاوره

دا سې ایمان،دا سې غیرت ،دا سې پُښتو لرمه
چې دَ اغیارو قدم نهٔ پرېږدم پهٔ خپله خـاوره
* * * *

هغـه سـتا غلـي کتـل راتـه رايـاد شـي
بيـادې مـا نـه شـرمېدل راتـه رايـاد شـي

دَخپـل ځـان سـره مُسـکے شـمه جانانـه
چې دې سترګو کښې خندل راته راياد شي

پهٔ پرد بس کښې چې خپل سر پهٔ لُوټه ږدمه
ګُلې خوب ستا پهٔ ځنګل راتـه راياد شي

چې پهٔ شپه کښې مې تيارې تـه فکر يو سي
نـو سـتا زُلفې سـتا وربـل راتـه رايـاد شـي

چې وريځـه دَ سـپوږمۍ پـهٔ مـخ خوَره شي
سـتا پَلـو مـخ تـه نيـول راتـه رايـاد شـي

www.pukhto.net

مـــاچې کلـــه ماشـــومان پـــهٔ کـــانړو وَلـــي
ستـا پـهٔ گُـل هغـه ويشـتـل راتـه رايـاد شي

زهٔ پـــهٔ خپلــه بــې وســـې بانـــدې ژړېـــږم
چې دې اوښـکې توئيـدل راتـه رايـاد شي

پـهٔ اُفــق چــې دَ شــفق سُــرخي خــوَره شــي
دَ رفيــق ښــکلے غــزل راتــه رايـــاد شـــي

* * * *

## قطعه

 څوک زمـا دَ احسـاسـاتو خبـر نـهٔ شُـو
همـه خلـق لـه حـالاتو خبـر نـهٔ شُـو

ډېر ډېر څهٔ مې پهٔ زړګي باندې تېرشوي
خوهيڅ څوک لـه وارداتـو خبـر نـهٔ شُـو

* * * *

www.pukhto.net

سرهٔ شوله لمبه شوله
زار څومره غصه شوله

ستا دَ انتظار ډېوه
لاړه اخر مړهٔ شوله
پربړده چې اوس څهٔ کیږي
اوس قصه خوَره شوله
بس دے مینه نهٔ کووم
نوره مې توبه شوله
ګُل مې ورله څهٔ ورکړو
ګُل پهٔ شانې سرهٔ شوله

www.pukhto.net

ما باندې اختر شو سم
تلهٔ خو راستنه شوله
يار شته نه خُمار شته اوس
څنګه مېخانه شوله
پس له يا قُربان پهٔ بام
بيا دَ سوز تپهٔ شوله
مور مې پهٔ ديدن کړلې
څه چې څو غرمه شوله
څنګه زمانه راغله
څنګه پُښتنه شوله
ښکارې بيا غرض ئې دے
هسې چې خوَږه شوله
خُلهٔ ترېنه خطا شوه کهٔ
ورکه ترې بانه شوله

مهٔ څه اوس رفيقه تهٔ
دا خو توره شپه شوله
* * * *

څه چې نن خو وران کړو دَ رقيب دَ ارمانونو کور
لاس راکړه جانانه چې اباد کړو دَ ګُلونو کور

زهٔ پهٔ خپل محل کښې لږه هم خوشحالي نهٔ وينم
څهٔ به کړم يواځې دَ مر مر دَ ديوالونو کور

داسې دې کور وران شه چې رقيبه بيا جوړېږي نه
څنګ چې دې وران کړے دے زمونږ دَ ديدنونو کور

څاڅکو دَ باران پهٔ شوګيرو زهٔ اموخته کړمه
بيا پهٔ سر اخستے زما اوښکو دَ خوبونو کور

ورک پهٔ بيابان کښې شوم رفيقه چرته لاړمه
وخت رانه ورک کړے دَ خپرا زه اُميدونو کور

* * * *

دا درته چا وې چې تهٔ ښکلے نهٔ یې
زما پهٔ سترګو چا لیدلے نهٔ یې

خپل نزاکت درته معلوم دے کنه ؟
لا پهٔ ګُلونو مې ویشتلے نهٔ یې

اوس به دَ حُسن ډیوې مړې پاتې وے
ښهٔ ده چې سترګو کښې چا وَړلے نهٔ یې

زهٔ دَ غمونو سمندر لاهو کړم
تهٔ ئې لا غاړې ته راغلے نهٔ یې

دومره پهٔ حُسن باندې ناز مهٔ کوه
لا دَ خزان سیلۍ وهلے نهٔ یې

رفیقه چرته پهٔ خوبونو کیږې
څو چې پهٔ کار پسې وتلے نهٔ یې

* * * *

کلـه چـې زېـرے دَ دلبـر راشـي
خلقـه پـهٔ مـا بانـدې اختـر راشـي

ړانـدۀ تيـاره او رڼـا خـهٔ پېژنـي
كه توره شپه وي كه سحر راشـي

دَ لېـونـۍ سـترګه رپېـږي وائـي
نـن بـه اشـنا لـهٔ پېښـور راشـي

شيخه دَ مينې نه تهٔ څهٔ خبر يې
دا خو تيارې ته لکه نمر راشي

هغه زوږ وخت ته مې بيا يو سي فکر
چرته چې لاره کښې ګودر راشي

ښکله رِواج دے ، دَ وطن نه څمه
حرام دې وي کهٔ دا بهر راشي

زړهٔ مې ژوندے شي لږه ساه واخلمه
دَ بام پهٔ سر چې پهٔ نظر راشي

رفيق دې هغه وخت غزل وليکي
چې ستا غمونه ئې پهٔ سر راشي

* * * *

مینې دې هوښیار کړمه
بیا ئې توبه ګار کړمه

پرېږده چې منصور شمه
عشق چې دې پۀ دار کړمه

ستا چې نۀ خوښېږمه
چا تـه بـه سِنګار کړمه

کلي تـه مې راشه لږ
ځان بـه درنـه زار کړمه

ستا دَ شونډو یاد څۀ ؤ
خیال کښې ئې خُمار کړمه

ګُل بـه شم یو ورځ رفیق
دشتې بـه ګُلزار کړمه

* * * *

شعر که غزل دے ، ستا لۀ مخه دے
درد له دَ زړۀ حل دے ، ستا لۀ مخه دے

تا ته دَ خپل حُسن زور معلوم نۀ دے
باغ دے او که گُل دے، ستا لۀ مخه دے

خلق ئې چاپېره تماشه کوي
اور راباندې بل دے ، ستا لۀ مخه دے

هسې دَ صحرا دُوړو کښې ورک شومه
ورک رانه منزل دے ستا لۀ مخه دے

ستا رفيق شو خلاص دَ هرې چارې نه
يو ستا پۀ تکل دے ، ستا لۀ مخه دے

* * * *

www.pukhto.net

❀

لکـه دَ مـور چـې پـهٔ بچـي سـوَزيږي
داسې مې زړهٔ پهٔ هر ژوندي سوَزيږي

ځومره سوکړه پهٔ ګُلستان خوَره شوه
ګُلونـه څـهٔ کـوې ازغـي سـوَزيږي

راشـه بـاران دَ مينـې اوروه
دَ ارمـانونو مـې تيغـي سـوَزيږي

دومـره غصـه درلـه ښـهٔ نـهٔ ده يـاره
پـهٔ تـاؤ ئې سـتا هـم اننګي سوَزيږي

اشـنا تـهٔ راشـه پسـرلے راولـه
خزان کښې هر شے سمد ستي سوَزيږي

لـږ شـان کـرَم خـو پـرې کـوه جانانـه
رفيق دې مينه کښې بيخي سوَزيږي
* * * *

اشنا پۀ مینه کښې خوَندونه نشته
نشته هغه ښکلي وختونه نشته

ستا پۀ لوظونو مې باور نۀ راځي
چې دي پۀ سرو شونډو پارونه نشته

زۀ دَ اُلفت دَ مېخانې لېونے
پۀ لپو ښنمه چې جامونه نشته

چې پۀ سمسور سپرلي کښې نۀ راتللې
خزان شو ، مۀ راځه ګُلونه نشته

اشنا چې لاړو رنګینۍ ورکې شوې
هغه ماښام ، هغه رنګونه نشته

ژوند مې پۀ دې کلي کښې نۀ تېرېږي
رفيقه دلته دیدنونه نشته

* * * *

تــا تـــه هســـې هـــم نـــهٔ دریاد ېږمـــه
پرېـــږده چـــې لـــهٔ ځانـــه هـــم هېرېږمـــه

اوس هم ستا راتلو ته سترګې سترګې یم
راشـــه اخـــر وخـــت دے رخصـــتېږمه
تـل کـهٔ مـې دَ پښـو نـه لاندې باسې تـهٔ
زهٔ بـــه درتـــه لارو کښـــې ټوکېږمـــه
تـهٔ پـهٔ آئینـه کښـې ځـان تـه وګـوره
زهٔ بـه دې پـهٔ سـترګو کښـې ځلېږمـه
ځکـــه نفرتونـــو تـــه زهٔ ټینـــګ یمـــه
ستا پـهٔ مینـه مـړ راژونـدے کېږمـه
ښـکلي رانـه ټـول چـاپېره شـوي دي
زهٔ یـــم نظـــر پانـــه لـــوګے کېږمـــه

لــږ ســاعت لــه مــهٔ راځــه رفیقــه تــهٔ
زهٔ چرتـــه پـــهٔ لـــږ دیـــدن مړېږمـــه
* * * *

نشته ستا پۀ شانتې ښکلے پۀ دُنيا کښې
يو زره کمے هم نۀ ښکاري پۀ تا کښې

تۀ چې وخاندې نو بنګ سرونه ټيټ کړي
عجيبه غوندې نشه لرې خندا کښې

چې دروګورمه سترګې دې شي ښکته
پښتنه مينه دې اووينم حيا کښې

حق حېران درته ولاړ يم فرق نشته
دَ غوټۍ پۀ ګُل کېدو ستا پۀ مُسکا کښې

پۀ ظاهر باطن دې اوليدم رفيقه
وايه څۀ کمے دې اوليدو پۀ ما کښې

دَ ښيرو نه دې خدائيګو ډېر وېرېږم
اے رفيقه يادوه مې پۀ دُعا کښې

* * * *

څۀ تـوره تیـاره شـوه رڼـا ورکـه شـوه
خلقو کښې چې مینـه وفـا ورکـه شـوه

مینــــه دَ زړګـــو نــــه بهــــر اووتــــه
ځکه خو پۀ شونډو خندا ورکه شوه
پښې ئې دَ پُښتون څادر نه ویستې دي
لاړه پُښــــتنو نــــه حیــــا ورکــــه شــــوه
راغله دَ سپوږمۍ غوندې دَ زړۀ پۀ کور
پرې ئې ښوم یوائې سبا ورکه شوه
چــا دَ محبــت نمونــــه ورنــــۀ کــــړه
نخښـه دَ مجنـون او لیلـی ورکـه شـوه
چرته چې خوشحاله وي مئین زړونه
نشـته هغـه ښـکلې دُنیـا ورکـه شـوه

رنـګ ئـې دَ رفیـق غـزل لـه ورکړلـو
یـو ځلـې راغلـې وه بیـا ورکـه شـوه
* * * *

www.pukhto.net

ډکه مې جولۍ شوله دَ اوښکو دَ غَمو نه
زړهٔ مې راخوټکيږي څوک خبر دي دَلمبو نه؟

زهٔ دَ ژوند پهٔ هر قدم هم دغه دُعا غواړم
ورکه ځان ځاني به شي هم کله پُښتنو نه

څوک لکه زما غوندې ساده به پکښې ګېر شي
جوړ ئې زنځیرونه کړه دَ زُلفو دَ کمڅو نه

نهٔ غواړم پېغور دَ پُښتنې مینې ، حیا له
نهٔ اوځم دَ خپل کلي دَ خلقو دَ پُښتو نه

دا دَ مسیحا خوبي ئې مَړي راژوندي کړي
زار دې شم جانانه دَ مړو سترګو مړو کتو نه

ننګ پهٔ خپله خاوره چې کولے سړے نهٔ شي
ښهٔ ده ورله مَتهي کړئ بیا ډکې دَ بنګړو نه

زهٔ لکه سپوږمۍ غوندې تلاش کښې دَ منزل یم
ګرځم پهٔ مدار کښې دَ کلونو نه ، مودو نه

حجره نهٔ جُمات شته نه تمیز دَ مشر کشر
څنګه ترقي ده دا ئې څهٔ جوړ کړه زلمو نه

تېره څو ځواني شوه لاړه تولـه انتظار کښې
نهٔ راتلهٔ ئې ښهٔ دي اوس رفیقه دَ راتلو نه

* * * *

کلـه چـې پـۀ زړۀ کښـې محبـت راشـي
سم سـړے باچه شي لـوئې دولـت راشي

بغـض او حسـد چـې زړۀ نـه لـرې شـي
بيـا خو پـۀ ژونـدون کښې برکت راشي

دومـره کبـر ښـۀ هـم لېـونی نـۀ دے
مـۀ کـوه اے بيـا بـه دې حاجـت راشـي

ټيټـې سـترګې پـاتې رقيبـان شي ټـول
خواله چې جانان مې کوم ساعت راشي

اوښکې مې نيازبينې شي لۀ سترګو توئې
وخت چې دَ جانـان مې دَ رُخصت راشي

کــار چــې دَ ګُنــاه هــم کلــه اوکړمــه
بيا مې ترې پهٔ زړهٔ کښې ډېر نفرت راشي

کلــه کــهٔ زمــا دَ زړهٔ نــه اووتــې
زر ده چــې رفيقــه بيــا قيامــت راشــي
* * * *

# قطعه

احســاس راکــړو وختونــو ځکــه فکــر مــې ځلنــد شــولو
دَ ژوند دَ هرې پېښې حل مې خپل مُوتې کښې بند شولو

دا مخکښې څو لمحې مې پهٔ ازغو ازغو کښې تېرې شوې
خو وخت اخر بدل شو دَ ګُلونو مئينځ کښې ژوند شولو
* * * *

www.pukhto.net

ناست له دُنیا یم مرور ، غاړې ته
لږ مې نزدې کړه یاره سر ، غاړې ته

زاړه یادونه چې مې واخلي کله
لاړشمه کښېنم دَ ګودر غاړې ته

چې لږ خفه شم تا له راشم اشنا
لاس چې هم مات شي ،ځي اکثر غاړې ته

چې لږ تکور ورله په شُونډو ورکړې
دردونه ورک شي دَ پرهر غاړې ته

زمونږ پـهٔ سـر کـښې نشـه هسـې نـهٔ ده
تـوکيږي بنـګ مـو دِ هـر غـَر غـاړې تـه

پـهٔ چَغـو چَغـو مـو يـو بـل تـه ژړل
چـې رانـزدې کړمـه دِلبـر غـاړې تـه

هغــه رفيــق يــم ســتا ملنــګ دَ مينــې
تـا لـه راغلـے سـتا دَ ور غـاړې تـه

* * * *

# قطعه

قسمته سترګې مې شمکورې نهٔ کړې
چرتـه الـزام راباندې پـورې نـهٔ کـړې

زاړه زخمونـه مـې جانانـه ښـهٔ شـو
بيا ګورے سترګې دا سې تورې نهٔ کړې

* * * *

تــا چــې اوویــنم څـهٔ چــل رابانــدې وَشــي
چرتــه مینــه مــې دُنیــا تــه ښــکاره نــهٔ شــي

پــــهٔ خبـــرو رالـــــه زړهٔ ارې ارې کــــړې
خو چې سترګو ته دې ګورم زړهٔ مې ښهٔ شي

ستا دَ هجر شپې مې تولې شوګيرې کړې
څوک بهَ څنګه دَ لمبو غېږ کښې اودهٔ شي

چې دَ حُسن وخت دې لاړ پهٔ تېرېدو شو
راته وايه اوس غرور کوې پهٔ څهٔ شي

دَ وصال باران پرې هم اخر راښکې شي
چې پهٔ دشت کښې دَ بېلتون سرې سپېرهٔ شي

څوک دَ مينې پهٔ علاج باندې بينا شي
خو څوک تش پهٔ محبت پسې ړاندهٔ شي

اوس به زړهٔ باندې دَ صبر کاڼے کېږدم
چې سرے شي پهٔ زړهٔ غوځ زورئې اوبهٔ شي

اے رفيقه دَ پتنګ نه مينه زده کړه
چې لتاړ شي اندامونه ئې سکارهٔ شي

* * * *

اوښکې مې توئیږي ستا سودا سره کنه
غم دَ زړهٔ سپکیږي پهٔ ژړا سره کنه

خبر دے که مې مات کړي خامارانې زُلفي ستا
ځان خو به عادت کړم دې بلا سره کنه

پاتې مې پهٔ زړهٔ کښې یو ارمان دے له مودو
ژوند به خنګه ژوند وي دَ اشنا سره کنه

راشه دا زړګے مې کړه تکور پهٔ یو دیدن
روغ به شي هم دا دَ دې دوا سره کنه

ځکه دا سې یم چې ژوند تېرېږي پهٔ ژړا
زړهٔ ئې رانه وَړے پهٔ خندا سره کنه

www.pukhto.net

خبـر کـه تـهٔ کـوې راتـه ښـېرې سـحر ماښـام
زهٔ ئـــې قبلؤمـــه پـــهٔ دُعـــا ســـره کنـــه

چـا بانـدې اعتبـار رفیقـه نشـته نـن سـبا
اوکـــړم مـــې دَ زړهٔ خبـــره چـــا ســـره کنـــه

* * * *

# قطعه

سـوال مـې درتـه اوکـړو هـم منـت مـې درتـه وکـړو
دومره خو څوک نهٔ کړي ، څومره سَت مې درته وکړو

چرتـه دَ رقيـب مخکښـې سـينګار وکـړه راؤځـه
اور پـرې کـړهٔ ورپـورې اجـازت مـې درتـه وکـړو

* * * *

اوښکې مې ماتې شي سلګۍ ماتيږي
چې رايادېږې نو زړۀ ماتيږي

بس کړه پښتو دې نوره مۀ اوږدوه
ياره پښتو کښې خو پُښتۍ ماتيږي

www.pukhto.net

پهٔ تا ځواني او سپرلے یو ځائے راغلل
پهٔ ډېر ښائست دې ملا نرۍ ماتېږي

مـهٔ کـوه نـورې دَ بېلتـون خبـرې
ستا قسمونه لېونۍ ماتېږي

راشـه دَ ځـان سـره ګلونـه راوړه
دلته بې وخته سرې غوټۍ ماتېږي

نـور دَ غمونـو امبـار مـهٔ رالیـږه
مهٔ کوه تېـغ مې دَ ځوانۍ ماتېږي

څومره خُمار دَ رفیق سترګو کښې دے
دَ سترګو مخکښې ئې پیالۍ ماتېږي

* * * *

www.pukhto.net

پـام کـوه زړګيـه چرتـه شـاړو بانـدې سـر نـهٔ شـې
چرتــه پــهٔ ظـاهره ښــکلاګانو بانــدې وَر نــهٔ شــې

څهٔ نه څهٔ رشته خو به زمـا او سـتا تـر مئينځـه وي
خبـر کـهٔ مينـه نـهٔ کـوې دَ وينـې نـهٔ مُنکـر نـهٔ شـې

www.pukhto.net

نن خو ټوله شپه کښېنې دې وعدې دَ سحر وکړلې
ګورم به سبا له چې پښېمانه پرې سحر نهٔ شې

ځان کړه ناغرضه دَ قاتل پُوښتنه مهٔ کوه
تهٔ به شې مُجرم خو بس دَ زړهٔ نه مې خبر نهٔ شې

څهٔ کوې زړګيه پهٔ پردو تيلو کښېنې ځان سيزې
سترګې ګورې سترګو ته خو ګېرئې پهٔ اثر نهٔ شې

الوځه دَ باز غوندې پهٔ دنګو دنګو غرونو تل
هسې دَ تېپوس غوندې پهٔ کلي باندې سر نهٔ شې

حلق مې نور رفيقه خوږؤمه پهٔ خوږو دَ ژوند
بس کړه دَ يار غمه نور زما دَ غاړې غوَر نهٔ شې

* * * *

دَ زړهٔ زور چې دَ مالیار پهٔ ختمېدو دے
دا ګلونه دا ګلزار پهٔ ختمېدو دے

چې جانان راته ډیوه دَ وصال مړهٔ کړه
دا منزل دے که رفتار پهٔ ختمېدو دے

بس دَ مینې پهٔ مطلب دې پوهٔ مه
یاره راشه انتظار پهٔ ختمېدو دے

که هر څو خوَږې پستې خبرې وائي
پهٔ واعظ مې نور اعتبار پهٔ ختمېدو دے

چې رفیق دَ مېخانې نه تږے لاړو
راته ښکاري چې خُمار پهٔ ختمېدو دے

اوس برقي الات راغلي دي رفیقه
محبت کښې هم ریبار پهٔ ختمېدو دے

* * * *

www.pukhto.net

پټ پټ مې پۀ سينه کښې سمندر دَ محبت دے
که سترګو ته مې وګورې ګودر دَ محبت دے

ناصح ئې پۀ کنلو وَسې وکړې چې ئې خلاص کړي
لا زړونو کښې ولاړ هغسې غر دَ محبت دے

هيڅ فرق پکښې نۀ کووم مالداره که غريب دے
ما کړے هر اِنسان ته هم نظر دَ محبت دے

چې سترګې رانه اړوې پۀ دې باندې پوهېږم
دا نېغ چې راکتے نۀ شې اثر دَ محبت دے

هم نن ئې پۀ تراخۀ انداز کښې دا ووې رقيب ته
دې شکل ته دې وګوره ، ستا سر دَ محبت دے؟

بس لږ ټکورول غواړي رفيقه پۀ سرو شونډو
جوړ شوے مې سينه باندې پرهر دَ محبت دے

* * * *

جنګ پهٔ ګودر جوړ شولو منګي مات شُو
خوند پکښې لادا ؤ چې بنګړي مات شُو

مينې پهٔ سپرلي دې رازرغون کړه خو
زور دَ نفرتونو کښې تيغي مات شُو
تال دَ اُميدونو ته ښاخونه څهٔ ؟
پرېوتم حېرانه چې بيخي مات شُو
بيا هم زهٔ له عشقه توبه ګار نهٔ شوم
ستا دَ عاشقانو کهٔ تندي مات شُو
ما خو وې ګُلاب ئې درنزدې شومه
هسې مې لاسونو کښې ازغي مات شُو

ډانډي ئې پهٔ زړهٔ کښې دَ رفيق شُو ښخ
ټوټو کښې ليلى نه مېخکي مات شُو

* * * *

بې اخلاصه هر بیان دے بې مطلبه
بې عمله هر انسان دے بې مطلبه

پهٔ زره زره کښې ذات دَ رب ښکاره دے
خو جاهل له ټول جهان دے بې مطلبه

چې پهٔ نیت کښې ئې دَ بدو څهٔ ګډون وي
بیا ښېګړه هم تاوان دے بې مطلبه

چې پهٔ عشق کښې څوک لهٔ داره ویره وکړي
نو شلېدلے ئې ګرېوان دے بې مطلبه

چې دَ ورور دَ درد پهٔ څرېکه نهٔ پوهېږي
بیا خو هسې مُسلمان دے بې مطلبه

چې رضا ئې دَ زړهٔ نهٔ وي اے رفیقه
تش پهٔ خُلهٔ باندې جانان دے بې مطلبه

* * * *

خوند کوي ستا سپينه نرۍ زنه خو
ګرانه شوه زما دَ زړهٔ ساتنه خو

هره پېرزوئنه ئې پهٔ سر سترګو
وکړه کهٔ مې يار چرته پُوښتنه خو

ستا ياد مې پهٔ زړهٔ کښې داسې ښخ شولو
وتومبي چې ځوک پکښې بس غنه خو

چرته به دَ سترګو اوښکې توئې نهٔ کړم
غم پهٔ زړهٔ ساتمه ښهٔ دننه خو

ما له مېوې هم نيسي ګُلونه هم
ښکاري لکه سروه داسې ونه خو

www.pukhto.net

کلـه کلـه سـوچ اوکـړم دَ ځـان سـره
اوژاړم چـې زۀ شـوم بـې وطنـه خـو

یـره کـه دا ځـان هـر څـو قـابو سـاتم
ژونـد کلـه تېریـږي بـې دیدنـه خـو

پـام کـوه رفیقـه چـې رسـوا نـۀ شُـو
زۀ هـم یـم پـۀ تـا بانـدې مئینـه خـو

* * * *

# قطعه

ستـا نـه بغېر چې کـوم سـاعت تېریـږي
هغـه پـۀ مـا لکـه قیامـت تېریـږي

شـپـه راپاسـه بیـا سـجده نـۀ کیـږي
بیـا درنـه وخـت دَ عبـادت تېریـږي

* * * *

نشته ستا پۀ شان څوک پۀ مُلکونو کښې
جوړ چې ئې تصوير شي زمونږ زړونو کښې

بېل بـه څـوک اشـنا کـړي دګُلونـو نـه
ښـکاري يـو ګُلاب پـۀ سرو ګُلونو کښې

دې انــدازئــې خــدائيګو لېــونے کړمــه
نيســي لوپټــه چــې پــۀ غاښــونو کښــې

څـوک مـو هـم پـۀ زمکـه بېلـوے نـۀ شي
څـو چـې بـدلون نـۀ وي اسـمانونو کښـې

نـورئـې هغــه سـترګو کښــې اثـر نشــته
سـتړې شـوې رفيقـه پـۀ جنګونـو کښـې

* * * *

سپرلے بـه راشي اُميدونـه ښـکاري
پـهٔ دشـتو شـاړو بـهٔ ګُلونـه ښـکاري

پـهٔ تهمـت رنـګ بـه درنـه لاړ شم ګُلـې
سـتا مُحبـت کښـې پرهرونـه ښـکاري

لاس بـه دَ داسـې مُحبـت نـه واخلـم
لکـه دريـاب چې ولونـه ولونـه ښـکاري

چـې دَ وطـن نـه بـې وطنـه شـومه
اوس راته خوب کښې خړ کورونه ښکاري

کتاب راواخلم ستا پهٔ ياد کښې ډوب شم
جوړ دې صفحو کښې تصويرونه ښکاري

واه واه ئې هـر وختـې دَ خُلـې نـه خيـژي
رفيـق تـه سـتا حُسـن شعرونه ښـکاري

* * * *

چې ستا حُسن دَ سېلاب شکل اختيار کړو
نو زما زړهٔ دَ درياب شکل اختيار کړو

دا منظر دَ ښُښتنې دَ حيا بس دے
اننګو ئې دَ ګُلاب شکل اختيار کړو

ما دَ بام پهٔ سر کتله چې اختر شو
دې ګُناه مې دَ ثواب شکل اختيار کړو

نغمه ګره ما څو وارې زمزمه کړې
ستا خبرو دَ رباب شکل اختيار کړو

اوس رفيق پهٔ پاڼه پاڼه لټوؤمه
چې ژوندون ئې دَ کتاب شکل اختيار کړو

* * * *

يـاد چې کـړم دَ کلي سمه غـر پـهٔ ښـاريه کښـې
ورکه مې شي لاره ، ورک ګودر پهٔ ښاريه کښې

يـاره رنګينـي خـو بـس دَ کلـي رنګينـي ده
خونـد نـهٔ کوي دلتـه مـازيګر پـهٔ ښـاريه کښـې

زار شــمه دَ کلــي دَ رســمونو دَ رواج نــه
څومره ځان ځاني ده سراسر پـهٔ ښـاريه کښـې

دلته مو مخونـه پـهٔ لوګو دُوړو کښې تـور شو
چرتـه هواګـانې شـته دَ غـر ، پـهٔ ښـاريه کښـې

ناست بـه وو بې غمـه دَ چينـار دَ وُنې لانـدې
ګرځو اوس هر وختې پهٔ سور نمر پهٔ ښاريه کښې

ساه واخلي ټول کلے دَ سبا پهٔ هوا مست شي
خلق ټول اودهٔ وي پهٔ سحر ، پهٔ ښاريه کښې

تــل بــه يــاد لــرم دَيــار ســاده حُســن دَ کلــي
نـهٔ راځـي يـو ښـکلے پـهٔ نظر پـهٔ ښـاريه کښـې

ځه چې ځو دَ دير پهٔ ښکلاګانو به دې موړ کړم
ناست بـه وي رفيقـه زورور پـهٔ ښـاريه کښـې

* * * *

## قطعه

خلـق مېخـانې تـه ډک جـامونو پسـې ځـي
زهٔ دَ يـار دَ شـونډو تـش جامونـه خوښـوؤم

خلق خو سپين رنګ کښې ښائست هسې عبث
زهٔ دَيار پهٔ سپين مخ تور داغونه خوښوؤم

* * * *

داغونو باندې شین هم دے
خو زړهٔ مې پرې رنګین هم دے

شین خال ئې پهٔ جبین هم دے
بل خوَند دَ لونګین هم دے

سرې شُونډې تورې سترګې ئې
بل رنګ ئې دَ مخ سپین هم دے

ازغـــي کـــه تـــرې چـــا پېره وي
خـــو ګُـــل بلهـــا حســـين هـــم دے

کابـــل دے کـــه کشـــمیر وطـــن
بـــل جنـــګ پـــهٔ فلســـطین هـــم دے

که ژونـد کښـې سـختې ډېرې شي
دَ یـــار پـــهٔ ســـر ریښـــمین هـــم دے

دَ ورور شـــــان مُحتـــــرم زمـــــا
اســـتاد مـــې اباســـین هـــم دے

کـــه تـــریخ مـــې دے هـــر څـــو رفیـــق
خـــو خـــوږ لکـــه ګبـــین هـــم دے

* * * *

پهٔ ترتيب باندې جوړ شوي درې څلور دي
پهٔ سپين مخ دې خوند خالونه کوي تور دي

پهٔ خوږو دَ محبت دې پوهه نهٔ شوم
ټول پهٔ برخه مې راغلي تراخهٔ سپور دي
بيا تازه راله زخمونه دَ زړهٔ نهٔ کړې
پهٔ خوارو ايله جوړ شوي دي ټکور دي
ستا غمونه راته هسې ميلمانهٔ شو
نا بللي مې دېره دَ زړهٔ پهٔ کور دي
دا زمونږ پهٔ جُدائۍ باندې ژړېږي
پهٔ چمن کښې بوراګان پراته نسکور دي
اوس چې قبر له مې راشې ولې ژاړې
دا امبار راباندې خاؤرې دَ پېغور دي

دَ رفيق نهٔ خوئې وار او پار خطا کړو
ستا دَ زُلفو خاماران ورته پهٔ شور دي

* * * *

www.pukhto.net

سترګې مې جانانه ستا پهٔ تلهٔ خوَلې خوَلې
ستا هم شُو زما پهٔ شان لېمهٔ خوَلې خوَلې

سيورے سيورے زُلفې دې پهٔ ما کړې راخورې
بيا هم دَ ګرمۍ نه شومه زهٔ خوَلې خوَلې

تاؤ دَ اننګو ؤ ، شُونډې هسې رپېدې
زهٔ نشه نشه وومه ، هم تهٔ خوَلې خوَلې

تهٔ پرې دَ مرهم پهٔ بانه مالګې دوړوې
ځکه خو پرهر شو زما ښهٔ خوَلې خوَلې

خلق څهٔ خبر دي چې زېرېږمه پهٔ څهٔ ؟
زهٔ کړم دَ يار غم او بېلتانهٔ خوَلې خوَلې

www.pukhto.net

مـا تــه را يــاد يږي دَ وصــال هغــه لمحــې
پـروت بـه وومـه ستا پـهٔ زنګانـه خـولَې خـولَې

هغــه وږوکــوالے او خــوَږې خــوَږې قيصــې
نا ســت بــه وو پــهٔ ګَـرم تنــاره خــولَې خــولَې

زر شـوه غريئـو نيـولې پـهٔ هيبت ئې راتـه وې
اے رفيقــه ولــې! دا پــهٔ څــهٔ خــولَې خــولَې

* * * *

## قطعه

تــهٔ چــې راغلــې پســرلے شــو
خـــزان تختـــي لېـــونے شـــو

اوس دَ دار دَ ختـــو نـــهٔ دے
چــې رفيــق لــوګے لــوګے شــو

* * * *

دَ خوشحالۍ وخت مې پۀ غم کښې ورک شي
غم به دې کله پۀ يو دَم کښې ورک شي

محبت نن دَ ښاره اووتلو
سبا به کلي کښې پۀ چم کښې ورک شي

دَ ځناورو نه هم ډېر شي بدتر
عقل چې کله بنيادم کښې ورک شي

بېرته بيا نۀ دے موندے شوے سړے
څوک چې دَ زُلفو پېچ و خَم کښې ورک شي

نشه دَ مينې چې څوک وڅښي يو ځل
بيا خو خوندونه پۀ چيلم کښې ورک شي

ستا دَ غزل خوبۍ به ختمې نۀ شي
رفيقه دَم کۀ دې قلم ورک شي

* * * *

بې ديدنـه ژونـد هسې عَـبس دے بـس
نـوره مينـه نـۀ کوومـه بـس دے بـس

مـۀ کــوه ناصــحه نصـيحت ماتــه
ټول پرهر پرهر دے زړۀ مې غوَڅ دے بس

ستورې او سپوږمۍ درله راوړے نۀ شم
زړۀ مې درله درکړو دا مې وَس دے بس

بـده ورځ ئـې هـيڅ کلـه ليـد ے نـۀ شـم
سر مې هم قُربان پۀ خپل اولس دے بس

څمــه نــن دَ حــق دَ قــافلې ســره
غــږ مــې اوريــدلے دَ جَــرس دے بــس

ګرانــې پــۀ رفيـق دي دَ جانــان ســترګې
نور ګنې رقيب دَ سترګو خَس دے بس

**** 

دُنيا دَ غم او خوشحالو نه ډکه
دَ سرو لمبو او دَ وږمو نه ډکه

چا ته دَ څښلو اوبهٔ هم نهٔ رسي
چا ته دَ مَيو دَ پيالو نه ډکه

دَچا نصيب کښې وي امبار دَ ګُلو
دَ چا وي برخه دَ ازغو نه ډکه

دَ چا قسمت کښې رڼاګانې وي تل
دَ چا دُنيا وي دَ تيارو نه ډکه

يار مې هندکي خُويونه لري
زما سينه دَ پُښتو نه ډکه

رفيقه بيا خو به جنت ښکاريږي
کهٔ شي دُنيا دَ لېونو نه ډکه

* * * *

ګُلونه څۀ شُو باغ سمسور دې څۀ شو
بُلبُله زړۀ دَ مينې کور دې څۀ شو

تنکۍ غوټۍ به هر وخت تا چيړلې
دَ سحر باده هغه زور دې څۀ شو

چا چې ډولۍ ستا دَ غمونو وړله
هغه مئين ، هغه غمخور دې څۀ شو

ستا محفلونه ، خوندور وختونه
هغه دَ مينې ټنګ ټکور دې څۀ شو

تورې تيارې دي ، رانه لار ورکه ده
بنګړي دې څۀ شُو ، هغه شور دې څۀ شو

دَ رفيق زړۀ کښې شُو اودۀ دردونه
ياره دَ مينې هغه اور دې څۀ شو

* * * *

www.pukhto.net

# پښتنه پېغله

پېغلې پُښتنې دَ غرونو سر کښې اوسېدونکې يې
تهٔ دَ ښکلاګانو پهٔ منظر کښې اوسېدونکې يې

دلته پهٔ سرتوره جونې ګرځي پهٔ ښارونو کښې
تهٔ پهٔ کور دننه پټ څادر کښې اوسېدونکې يې

نهٔ دې بې رُخي او څهٔ فريب دهوکه کتلې ده
نهٔ دَ دې رسمونو پهٔ اثر کښې اوسېدونکې يې

حُسن فطرتي دے تقسيم شوے ځاځکې ځاځکې کښې
يو تهٔ ئې دَ حُسن سمندر کښې اوسيدنکې يې

کور دې پُښتنې دننه جوړ کړو دَ رفيق زړهٔ کښې
تهٔ ئې دَ سينې پر هر پرهر کښې اوسېدونکې يې

* * * *

www.pukhto.net

هر څو کۀ انکار دے ستا پۀ سترګو کښې
بيا هم يو قرار دے ستا پۀ سترګو کښې

ستا دَ زړۀ هر راز پکښې ښکاره وينم
ښۀ ګَرم بازار دے ستا پۀ سترګو کښې

وايمه چې ځان پکښې لږ وګورم
ياره لږ مې کار دے ستا پۀ سترګو کښې

ستا مينې پرې بند پهٔ بند ترلے يم
غوټه دغه تار دے پرې ستا پهٔ سترګو کښې

ماته نهٔ راګورې دَ ديدن پهٔ وخت
دا عجيبه کار دے ستا پهٔ سترګو کښې

غلے ورته ګورم دَ ښکارې غوندې
ماليدلے ښکار دے ستا پهٔ سترګو کښې

ستا پهٔ تش کتو باندې نشه شومه
دا څنګه خُمار دے ستا پهٔ سترګو کښې

تا چې پهٔ ژړا ژړا کښې اوخاندل
ښکارې چې اقرار دے ستا پهٔ سترګو کښې

ګورم پکښې خپل شهيد زړګے رفيق
ښخ دلته هم يار دے ستا پهٔ سترګو کښې

* * * *

PUKHTO.NET

کله کله چې دَ ظُلم انتها شي
زړهٔ مې غواړي چې اسمان زمکې له راشي

خوشبويۍ ئې پهٔ وطن خوَرې وَرې شي
چې کاکل ئې پهٔ سپرلي کښې پهٔ هوا شي

ماتــه عُمــر لــه وعــدې کــوي حســينې
چې نېتـه دَ وعـدې راشي نـو پـهٔ شـا شي

وايــم نېــغ بــه مــې منــزل تــه ورســېږم
رُخســارونه کــهٔ دې لارو کښېــې رنـا شــي

ستا وعدې مې مايو سی زړهٔ کښې پيدا کړي
ثوابونــه راتــه ټــول ګُنــاه ګُنــاه شــي

څوک دې مـا نـه هـم بـازي ګـټلے نـهٔ شي
کـهٔ دَ سـر پـهٔ بدَلـه بانـدې سـودا شــي

سـتا دَ خُلې نـه کـهٔ ښېرې هـم راپسې شي
خـوږه يـاره زمـا خُلـې نـه بـه دُعـا شــي

چې رفيـق تـه ئې وعـدې دَ راتلـو وکـړې
دغـه خـوب دې زمـا ربـه پـهٔ ريښـتيا شـي

* * * *

بيـا ئـې راتـول کـړۀ لېـوني مـا زيګر
پـړق چې دې وکـړو مېـخکـي مـا زيګر

سَـم دَ مابنـامه مـې ګرېـوان اوشـليدو
بنـېرې دې وکـړې پـۀ تنکـي مـا زيګر
يــو نــه يــو قتــل تــر مابنـامه کـوي
هغـه چې سـترګې تـوروي مـا زيګر
هغــه ګــودر هــم لا دَ چــا هېربـړي؟
پېغلې وي پېغلې او منګي مـا زيګر
بنــۀ دَ ګُلونــو وعــده وکــړي ســحر
خــو راکــوي رالــه ازغــي مــا زيګر
تـا چې وعـده دَ راتلو شـپې تـه اوکـړه
مـا هـم لـوګے کـړۀ سـپېلني مـا زيګر

رفيـق مـې تلـے دے دَ ښـار پـۀ لـوري
مـا لـه راوړي بـه نـن بنګـړي مـا زيګر

* * * *

www.pukhto.net

ستا غمونه اوژاړم کۀ خپل غمونه وژاړم
زۀ مې دَ ګرېوان کۀ دَ ګوګل غمونه اوژاړم

هلته ظُلم کيږي زړۀ مې دلته هم خُوږيږي ډېر
زۀ دَ پُښتونخوا کۀ دَ کابل غمونه وژاړم

نور غمونه اوکړم کۀ دَ مينې غم دې هېر کړمه
مينه خو هېرېږي نۀ ، کۀ شل غمونه وژاړم

ما خو به غُوښته ، چې مينه وکړم مينه وکړمه
اوس ئې دَ ابد کۀ دَ ازل غمونه وژاړم

تۀ دې خپل غمونه پۀ يو ځائے راکړه راټول ئې کړه
زۀ به دې هم ښۀ ده پۀ يو ځل غمونه وژاړم

زوَړند ټول چاپېره پۀ ګُلشن کښې مړاوي مړاوي دي
اووايه رفيقه دَ کوم ګُل غمونه وژاړم

* * * *

ستړګو کښې اثر لري
حُسن لکه نمر لري

ګُوته ځان ته مهٔ نيسه
سر دَ پاسه سر لري

هر سړے پوهېږي ښهٔ
هر سړے دِلبر لري

مينه کړي خاکسار سړے
زور لري کهٔ زر لري

غر کهٔ هر څو لوئې دے خو
لاره هم پهٔ سر لري

مړهٔ رفيق ته مهٔ ګوره
زړهٔ لري ځيګر لري

* * * *

www.pukhto.net

چې ستا پهٔ سترګو کښې مې ځان اولیدو
ښهٔ شوه پوره مې خپل ارمان اولیدو

تا هم دَ قصده کمځې پرانستلې
چې دې زما سیرې ګرېوان اولیدو

سم دَ خندا نه ورته شین شومه زهٔ
ما چې دَ مینې امتحان اولیدو

پهٔ ما پهٔ یو ورځ دوه اخترې راغلې
یو مې اختر بل مې جانان اولیدو

ما پهٔ سپوږمۍ دې ماتولَه مینه
بېګا مې ټوله شپه اسمان اولیدو

زهٔ خو دَ زُلفو نه خبر نهٔ وومه
رفیقه ما پکښې زندان اولیدو

* * * *

ستا ديدن لـه څـم راځـم
زړهٔ بـه درنـه وړم راځـم

تـا چـې سترګې تورې کړې
رادې کـړو قسـم راځـم

زُلفـې دې راتـولې کـړه
ګُـل بـه پکښې ږدم راځـم

www.pukhto.net

تــا لــه خوشــحالي راوړم
وړمــه درنــه غــم راځــم

ستـا پــهٔ ديـدن پوهــه يــم
ستـرګې بــه پُـر نـم راځـم

مينــه مــو رسـوا نــهٔ شــي
ځکــه دلتــه کــم راځــم

بــې لتـا نــه څـهٔ دے ژونـد
سـتا پـهٔ دَرکـهٔ مـرم راځـم

مينـــه دَ رفيـــق کـــووم
ځـان بــه پـرې سيزم راځـم

* * * *

چې ستا یادونو کښېنې اشنا تېرېږي
هغــه وختونــه پــۀ ژړا تېرېــږي

نـورې دَ زړۀ نـه وسوسې لـرې کـړه
بس کړه ځواني زما او ستا تېرېږي

زۀ هغــه خلــق خــوش نصــیبه گـڼم
چې یو ساعت ئې پۀ خندا تېرېږي

چا تـه مې حـال سبا وئیلے نۀ شم
پۀ ما چې کوم څۀ دَ بېگا تېرېږي

اخـر تـۀ بیـا ولـې خوشـحاله نۀ ئې
چې ټول غمونـه دې پۀ مـا تېرېږي

کله غُربت کلـه دَ یـار پـۀ غم کښېنې
رفیقـه ژونـد پـۀ دې سـودا تېرېـږي

* * * *

www.pukhto.net

ستا يادونه به اوسېږي زما زړۀ کښې
کم به نۀ شي ښۀ زياتېږي زما زړۀ کښې

فکر وړے يمه ، دې معصوميت ته
دا زما نه چې پټېږي زما زړۀ کښې

ژوند مې ټول ستا پۀ يادونو معطر دے
بس ګلونه راټوکېږي زما زړۀ کښې

خپل مقام کۀ ئې زما پۀ زړۀ کښې اوليد
نو خپل ځان ته به پسخېږي زما زړۀ کښې

زۀ کۀ ټول عمر ژړېږمه رفيقه
ستا غمونه به خندېږي زما زړۀ کښې

* * * *

وَرېے تَرېے ژوند تېرېږي ستا ديدن ته
مُسافره رب دې راوله وطن ته

ستا كتل راته پهٔ مرينې بيا حرام دي
كهٔ مې رانغلې جانانه څنكدن ته

راشه اوس مې پهٔ ديدن ستركې مړې كړهٔ
بيا حېران حېران به څهٔ گورې كفن ته

پهٔ وربل مې كشمالې چاپېره كېږده
ما پهٔ خپلو لاسو ښكته كړه مدفن ته

دَ ماضې ښكلې وختونه رانه هېر دي
ټول فكرونه مې راجمع شولو نن ته

ستا پهٔ مينه كښې رفيقه سودائي شوم
دَ سحر كارونه پرېږدم ماسخوتن ته

* * * *

دَ انتظـار ډيـوه شـوه مـړهٔ جانانـه
پـوره دې نـهٔ کړلـه وعـده جانانـه

ډېـر ارمانونـه مـې پـهٔ زړهٔ سـاتمه
چرتـه خـو واوره تـهٔ قصـه جانانـه

خاموشه پاتې شوې تا هيڅ اونهٔ وې
مـا درتـه اوکړلـه تپـهٔ جانانـه

کهٔ مې ارمان نيمګړے پاتې شولو
تـا تـه مـې اونـهٔ کـړهٔ ګيلـه جانانـه

تهٔ بهٔ رفيق پهٔ نيمه لار کښې پرېږدې
دا سـې دې لګـي انـدازه جانانـه

* * * *

ماتــه رايــاديږي هــر قــدم ســره
نــهٔ رانــه هېرېــږي پــهٔ قســم ســره

غَشــي دَ بڼــو چــې مــې پــهٔ زړهٔ لګــي
روغ بــه مــې زړګے نــهٔ شــي مــرهم ســره

ستړګې مې دا ستا پهٔ ستړګو يخې شي
زړهٔ مــې شــي ټکــور دَ شُــونډو دَم ســره

ســتا دَ راتلــو نخښــې پســرلي راوړي
ګُلــه تــهٔ رانغلــې دې موســم ســره

خپر دے زمانه کۀ مې خُلۀ بنده کړي
حُسن به دې ستا یمه قلم سره

مینې دې رفیقه لېونی کړمه
عقل مې تمام شو ستا دَ غم سره

* * * *

## قطعه

نن خو دَ ساقي خبرې سپکې شولې سپورې شوې
سترګې ئې بدلې شوې کاسې پکښې نسکورې شوې

هغه زَړو سترګو کښې زَړې خبرې نشته اوس
پرېږده اے رفیقه دَ اشنا خبرې نورې شوې

* * * *

ستا دَ زُلفو دَ اوربل سيوري ته پروت يم
سر مې پروت ستا پهٔ ځنګل سيوري ته پروت يم

چې دلې دَ محبت مې "سرائي" نهٔ کړې
هسې مهٔ کوه غوبل سيوري ته پروت يم

زهٔ به ځنګه دې اولس ته سايه ورکړم ؟
چې پهٔ خپله زهٔ دَ بل سيوري ته پروت يم

ځنګ خوَندونه دَ چينار دَ سيوري واخلم
چې دَ سَروې لاندې شل سيوري ته پروت يم

څهٔ دَ ژوند خوَږې سندرې ترې جوړيږي
چې رفيق وائي غزل سيوري ته پروت يم

* * * *

نور صبر رانه نهٔ کيږي
ستا مينې ته مې زړهٔ کيږي

اشنا چې مرور شولو
نو خدايه اوس به څهٔ کيږي

د ېر زيات پرې خوشحاليږمه
چې ستا ليدهٔ کاتهٔ کيږي

زهٔ ښهٔ کووم هر چا سره
چې ما نه څومره ښهٔ کيږي

دَ زړهٔ غريب قصور څهٔ دے
کتل خو پهٔ لېمهٔ کيږي

رفيق درنه زړګے غواړي
اشنا چرته پهٔ خُلهٔ کيږي

* * * *

www.pukhto.net

ستا زُلفې چې وَل وَل شي پهٔ تندي باندې خورَې شي
لمبې مې تاؤ راتاؤ پهٔ اسويلي باندې خورَې شي

چې اوښکې پهٔ ليموکښې نهٔ ځائيږي راتوئيږي
اوبهٔ چې شي راهېږي ، پهٔ لختي باندې خورَې شي

نورې دې جانانه جفاګانې پهٔ ما څهٔ وکړي ؟
بس څړيکې څړيکې راشي ، پهٔ زړګي باندې خورَې شي

کږه وږه چې ځي نو پهٔ شا واؤړي پهٔ خندا شي
نرۍ سپينې چاچۍ ئې پهٔ منګي باندې خورَې شي

کـهٔ حُسـن دې يـو ځلـې لـه حجابـه رابهـر شـو
شُغلې بـه دَ وطـن پـهٔ هـر سـړي بانـدې خـوَرې شـي

دا تـولې دَ جانـان دَ راتلـو نخښـې نخښـانې دي
چې دوړې ځي راځي پهٔ "ډوغلګي[1]" باندې خورې شي

اور دَ محبـت خـو دَ رفيـق زړهٔ کښـې سـړيږي نـهٔ
کـهٔ ګُـورې ګـورې زُلفـې لېـونې بانـدې خـوَرې شـي
* * * *

# قطعه

غم دې غاړه راکړي ، چې ماښام ته ورنزدې شمه
غلـے غلـے کېـږم ، اخـر جـام تـه ورنـزدې شـمه

ګـوره محبت تـه خپلـې وينـې پـرې قُربـان کړمـه
ګُوتې مې زخمې کړم ګُل اندام تـه ورنزدې شمه
* * * *

[1] زمونږ دَ کلي لوئي او مشهور غر

چا ته بهٔ بد چا ته بهٔ ښهٔ ښکارې
ما ته لهٔ هر چا ښکلے تهٔ ښکارې

اوس دې يادونو باندې ژوند تېرووم
تهٔ راسره ئې خو تهٔ نهٔ ښکارې

ښنګه ! دَ مينې زور دې اوليدلو ؟
کله بېدار ، کله اودهٔ ښکارې

تا ته به خدائے خبر چې څهٔ ښکارمه
ما ته قسم دے زما زړهٔ ښکارې

رفيقه تهٔ چې مئين شوے نهٔ ئې
دومره حېران پهٔ څهٔ ښکارې

* * * *

www.pukhto.net

لا دې کچـه ذهــن زلميتــوب ليــدلے نــهٔ دے
مينــې لا تــر اوســه پېغلتــوب ليــدلے نــهٔ دے

کلـه چـې ئـې سـتا خُمـارې سـترګې دي ليـدلې
سترګو مې تـر اوسه پـورې خوب ليدلے نهٔ دے

مار دے دَ لستونې پهٔ خوَږه کښې به تېک درکړي
مـا لـه پـهٔ رقيـب کښـې سړيتوب ليدلے نهٔ دے

تـا چـې مې زړګے يـوه مُسـکا باندې پرهـر کـړو
بيـا مـې چـا پـهٔ شُونډو مُسکيتوب ليدلے نهٔ دے

راشه اوس راتهول ورله پـهٔ چل خيرې ګرېوان کـړه
تـا وې دَ رفيــق مــې لېونتــوب ليــدلے نــهٔ دے

* * * *

پهٔ غوړونو کښې مې ستا دَ بنګړو شرنګ دے
راشه راشه اے جانانه زړهٔ مې تنګ دے

تورې زُلفې پرې دانه وانه پرتې دي
کهٔ رُخسار باندې دې کرښې کرښې رنګ دے

دا دَ خپلو پولو غاړو پېداوار دے
ځکه خوښ مې پهٔ نشو کښې يار بنګ دے

اوس دَ هر ښکلي دَ سترګو نه وېرېږم
چې بائيللے مې دا ستا پهٔ سترګو جنګ دے

کهٔ اغيار ورته پهٔ بدو سترګو ګوري
پښتنو کښې ډېر غېرت دے بلها ننګ دے

www.pukhto.net

وسوسې تربنه تر اوسه ختمې نهٔ شوې
لګیدلے دې پهٔ زړهٔ دا څومره زنګ دے

سپین او تور رنګونه یو ځائے څومره خوند کړي
ستا پهٔ غاړه کښې امېل چې دَ لونګ دے

بس دَ شپې ئې پهٔ تیارهٔ کښې ساه ډوبېږي
ستا رفیق دَ بَلې شمعې مست پتنګ دے

* * * *

## قطعه

لاړمه یورپ ته درنه لاړم پېښوره
اوس به دې لوګي او دُوړې ژاړم پېښوره

واړه ماښامونه دَ یورپ به تربنه زار کړم
ستا مازیګرے به هلته غواړم پېښوره

* * * *

www.pukhto.net

راغلـه تماشې لـه مې تـول ښـکلي دَ وطـن
روغ او لېـوني ګرېـوان شـلېدلي دَ وطــن

ځکـه خـو پخپلـه دار تـه خېژمـه هـم نـن
ننبـتـم دَ پېغـور نـه دَ خپـل کلـي دَ وطــن

ژوند ئې خپل راؤستے پهٔ ښېګړه دَ اولس
داسې خلق ډېر دي ما لیدلي دَ وطن

ورکړئ خپل تاریخ له پُښتانهٔ رنګونه بیا
جوړ شئ پُښتنو تاسو سپیځلي دَ وطن

خدائے خبر چې څنګه به مې حال وي دَ اشنا
ډېر وخت څوک نه تَلي ، نه راغلي دَ وطن

خاندي پهٔ مستئ دے زلمیتوب دَ محبت
هر خوا ته ګُلونه توکېدلي دَ وطن

زړهٔ ئې دَ رفیق نه سترګو وړے دے پهٔ غلا
بیا رامبېل چامبېل دي تختېدلي دَ وطن

* * * *

www.pukhto.net

مینې چې پۀ خپلو پښګړو کښې وَتړلم
وخت پۀ زنځیرونو ، زولنو کښې وَتړلم

عشقه لا خو پاتې لویه لاره دَ منزل ده
تا پۀ نیمه لاره کښې پۀ تلو کښې وَتړلم

www.pukhto.net

اوس بـه تـرې وتنـه پـهٔ مُشـکله بانـدې کیـږي
داسـې دې جانانـه پـهٔ کمخـو کښـې وَتـړلم

تـهٔ چې دَ پُښـتو دَ مئینځـه اووتـې بهـر شـوې
لا دې زهٔ دَ مینـې پـهٔ پُښـتو کښـې وَتـړلم

بې ستا لـهٔ کمخو مې لېونتوب وتلے نهٔ شي
څـو کـهٔ رقیبـانو پـهٔ رَسـو کښـې وَتـړلم

ستا معصوم نظر راتـه هـم ودریدو حېران شو
غـم چې ستا پـهٔ مخکښې پـهٔ لمبو کښې وَتـړلم

لاړو چـې رفیـق اخـر ډیـوه دَ مینـې مـړهٔ شـوه
زهٔ ئـې دَ هجـران پـهٔ تـورو شـپو کښـې وَتـړلم

* * * *

www.pukhto.net

ګورم چې راوګوري ، نو نۀ ګورم
غلي بيا دَ يار سترګو ته وګورم

چرته زۀ پۀ رنګ نۀ دهوکه کېږمه
زۀ خو هميشه دَ سړي زړۀ ګورم

ښۀ شوله چې يار مې ملامته شو
خوند کوي چې اوس ئې ټيټ لېمۀ ګورم

ژوند پکښې شروع شي مرګ ته اورَسي
دا ئې زۀ پۀ مړو سترګو کښې څۀ ګورم

وخت ترېنه تراخۀ زهر ويستلي دي
اوس پۀ خپله مينه کښې خوارۀ ګورم

مينه که رښا ده کۀ وفا ، ښکلا
ټول مې دَ رفيق غزل کښې زۀ ګورم

* * * *

www.pukhto.net

# سندره

ځکـه مـې زُلفـې الـول خـوَرې کـړې
مـا وې چـې تـهٔ بـه راځـې
ټولې کمخۍ مې دَ اوربل خوَرې کړې
مـا وې چـې تـهٔ بـه راځـې
خـو تـهٔ رانغلـې او مـودې تېـرې شـوې
ستا پهٔ راتلو کښې ورځې شپې تېرې شوې
جـوړې واپـس بـه اوس کمخـۍ کړمـه زهٔ
دَ شُـونډو لـرې بـه سُـرخۍ کړمـه زهٔ
تاتـه مـې سـرهٔ ګُلونـه ډېـر وسـاتل
خـو تـهٔ رانغلـې اشـنا
پـهٔ چغـو چغـو مـې هـم ډېـر اوژړل
خو تهٔ رانغلې اشنا
پـهٔ مـا دَ غـم ډکې لمحې تېـرې شـوې
ستا پهٔ راتلو کښې ورځې شپې تېرې‌شوې
دې سـتاغمونو لېـونۍ کړمـه زهٔ
دَ شُـونډو لـرې بـه سُـرخۍ کړمـه زهٔ

www.pukhto.net

ستا پهٔ وعده مې اعتبار کولو
زهٔ پهٔ ځان نهٔ پوهېدم
ستا دَ راتلو مې انتظار کولو
زهٔ پهٔ ځان نهٔ پوهېدم
خو بس پهٔ شُونډو مې ګيلې تېرې شوې
ستا پهٔ راتلو کښې ورځې شپې تېرې شوې
زرې زرې دې جُدائی کړمه زهٔ
دَ شُونډو لرې به سُرخی کړمه زهٔ
لاس مې اختر کښې پهٔ نکريزو سرهٔ کړه
ستا دَ راتلو پهٔ طمع
دَ مخ خالونه مې رفيقه شنهٔ کړه
ستا دَ راتلو پهٔ طمع
سترګې مې هسې بې اسرې پاتې شوې
ستا پهٔ راتلو کښې ورځې شپې تېرې شوې
خومره راګېره بې وسی کړمه زهٔ
دَ شُونډو لرې به سُرخی کړمه زهٔ

* * * *

www.pukhto.net

# بېلتون

پـــوهېږم دَ بېلتـــون خبـــرې ګرانـــې دي
ســر لــړې لــهٔ زنګــون ، خبــرې ګرانــې دي
خـــو هغـــهٔ دَ پـــرون خبـــرې ګرانـــې دي
دَ مينـــې او جنـــون خبـــرې ګرانـــې دي
اوس يو ځـــائے دَ ژونـــدون خبــرې ګرانــې دي
هـــم يـــاره دَ کوَنتـــون خبـــرې ګرانـــې دي
خـــو دومـــره درتـــه وايـــم دلرُبـــا زمـــا
پـــهٔ تـــا بانـــدې زهٔ پـــايم دلربـــا زمـــا
او بې لتـا نـه ژونـد خـو هډو ژونـد نـهٔ دے
خبـــر زهٔ کـــهٔ نـــن جُـــدا يـــم دلربـــا زمـــا
خو دومـره قـدرې وکـړه چـې مـا هېـر نـهٔ کـړې

او دا پښتنه مينه چرته زېر نهٔ کړي
خبر مونږ کهٔ دَ هجران ژوند قبول کړے دے
خو واؤره نور غمونه پهٔ زړهٔ تېر نهٔ کړي
زهٔ اوس هم ستا دَ زُلفو خوشبوئې غواړم
تر اوسه هغه مستې رنګينې غواړم
تر اوسه شوخ نظر غواړم ، پيالې غواړم
هم نن هغه پرون دَ زندګې غواړم
زهٔ غواړم هغه ژوند مې دَ ځوانې غواړم
خو څهٔ وکړمه ژوند را ستنيدے نهٔ شي
دا وخت چرته پهٔ يو ځائے ؤدريدے نهٔ شي
خو هغه تېر وختونه هېريدے نهٔ شي
دَ زړهٔ نه ستا تصوير مې ورانيدے نهٔ شي
دَ غمه دا زړګے مې هم چاؤدے نهٔ شي
پهٔ دې حال کښې سړے به لېونے نهٔ شي ؟
نو دا ؤ دلربا زما دَ زړهٔ اواز
هم ځکه مې راخيژي نن پهٔ خُلهٔ اواز
اوس ستا نه تپوسونه ستا دَ ژوند کووم
خو واؤره جواب رانهٔ کړې پهٔ مړهٔ اواز
تهٔ وايه اوس پهٔ شونډو دې سُرخې ساتې؟
تهٔ وايه اوس پهٔ پوزه دې نتکې ساتې ؟

www.pukhto.net

تـهٔ وايـه پـهٔ غوړونـو کښـې والـۍ سـاتې ؟
تـــهٔ وايـــه شـــوق اوس دَ شـــاعرۍ ســـاتې ؟
تـــــهٔ ووا يـــــه زهٔ اؤرم دلربـــــا زمـــــا
اے ولـــې شـــولې غلـــے تـــهٔ اشـــنا زمـــا
بس پوهه شوم چې تهٔ شوې غلې غلې اوس
ښې ښکارې چې دې شوندې دې چاؤدلې اوس
هم سترګې دې پهٔ اوښکو دې وينځلې اوس
هم خاؤرې دې پهٔ زُلفو کښې شيندلې اوس
اغوستې دې جامې دې هم مخلې اوس
بس تهيک شوه پهٔ مطلب باندې ستا پوهه شوم
هم زهٔ دې دَ ژوندون پهٔ غوغا پوهه شوم
زهٔ مـــنم دَ بېلتـــون خبـــرې ګرانـــې دي
اوس بېرتـــه دَ ســـمون خبـــرې ګرانـــې دي
خـــو دومـــره درتـــه وايـــم دلربـــا زمـــا
پـــهٔ تـــا بانـــدې زهٔ پـــايم دلرُبـــا زمـــا
مـــونږ مينـــه بـــه کـــوو پتـــه دَ زړهٔ مينـــه
او نـــهٔ بـــه کـــوو مـــونږ دَ ديوالـــهٔ مينـــه
خپل ژوند به ځان لهٔ ښهٔ ساتو او خاندو به
او بـــې دَ دې نـــه مينـــه بـــه وي نـــه مينـــه

* * * *

# خط

اے پـهٔ مـا ګرانـه اشـنا
خـــوږه جانانـــه زمـــا
نـن مـې تـهٔ واخلـه سـلام
زمـا پـهٔ حـال شـه خبـر
زمـا پـهٔ خيـال شـه خبـر
زهٔ ډېـر خوشـحاله يمـه
چـې تـا تـه خـط ليکمـه
حـال مـې دَ زړهٔ وايمـه
خـوارهٔ تراخـهٔ وايمـه
هـر څـهٔ پـهٔ خُلـهٔ وايمـه
لـږ راتـه تـهٔ ووايـه
حـال دې دَ زړهٔ ووايـه
څنګـه دې وخـت تېريـږي؟
پـهٔ محبـت تېريـږي؟
ښـهٔ پـهٔ عـزت تېريـږي؟

کنـهٔ پـهٔ ژونـد خفـه يـې؟
کـهٔ مايوسـۍ خـوَرې دي؟
سختې سوختۍ خوَرې دي ؟
زهٔ خـو اُميـد سـاتمه
چې سم خوشحاله به شې
چـې زمـا خـط ووينـې
زمـا پـهٔ حـال خبـر شـې
زمـا پـهٔ خيـال خبـر شـې
دا هـم اُميـد دے زمـا
دغـه مـې طمـع ده چـې
تـهٔ مـا تـه خـط وليکـې
پکښـې حـالات وليکـې
تـهٔ خپـل خيـالات وليکـې
او جوابونـه راکـړې
مـا لـهٔ دَ هـرې سُـرخۍ
مـا لـهٔ دَ هـرې نخښـې
يـاره دَ خپلـې خوښـې
زمـا دَ هـر يـو لفـظ
مـا لـه دَ هـرې نقطـې
چـې درليږمـه ئـې زهٔ

www.pukhto.net

تا تــه پټ پټ پهٔ خط کښې
اے پـــهٔ ګرانـــه اشـــنا
خـــوږه جانانـــه زمـــا
چرتــه بــدل خــو نــهٔ یــې؟
زهٔ خــو هــم هاغســې یــم
هغـــه رفیـــق یمـــه زهٔ
ژونــد تېـــرؤم پـــهٔ مینـــه
ســـر ورکـــوؤم پـــهٔ مینـــه
لـــږ راتـــه تـــهٔ ووایـــه
چې تـهٔ هـم هاغسې یـې ؟
چرتــه بــدل خــو نــهٔ یــې؟
اوس دې مـزاج څنګـه دے ؟
مینـــه بـــه وکـــړې کنـــه ؟
اے پـهٔ مـا ګرانـه اشـنا
خـــوږه جانانـــه زمـــا
ماتـــه زر خـــط ولیکـــهٔ
هســې نــه پــاتې نــهٔ شــي
زمـــونږ دَ دواړو مینـــه
پټــه زمــونږ زړونــو کښــې

* * * *

## زما ژوند

دا ځنګــه ژونــد دے زمـــا
یـو خـوا لحظې ترخــې دي
تــولې دَ غــم چپــې دي
اوږدې دَ هجــر شــپې دي
بلهـــا تیـــارې خـــوَرې دي
سترګې مــې هم ړنـدې دي
خو ژوند مې خوښ دے بلها

ژونـد مـې دَ زهـرو ډک دے
خو بیا هم خوږ دے ژونـدون
نور پۀ ژوندون کښې څۀ دي
خو غم او سوچ دے ژوندون
ژونـد دَ غمونـو پنـډ دے
پـۀ مـا هم بـوج دے ژونـدون
خو ژوند مې خوښ دے بلها
زمـا پـۀ زړۀ کښـې څـومره
بـل شـوے اور دے اشـنا
تـا تـه ئـې څـۀ پتـه ده
لـوګے ئـې تـور دے اشـنا
ځکـه خـو خـوب نـۀ راځـي
دَ میـنــې زور دے اشــنا
خو ژوند مې خوښ دے بلها
زۀ کـۀ شـعرونه لـیکم
کـۀ متلونـه لـیکم
ستـرګو کښـې نـم لرمـه
پـۀ زړۀ کښـې غـم لرمـه
تـا چـې صـنم لرمـه
پـۀ هـر قـدم لرمـه

www.pukhto.net

خو ژوند مې خوبښ دے بلها
تا تـه بـه يـاد يـم کنـه
مـا تـه يـاد يږې اشـنا
کـهٔ سـتا يقـين نـهٔ کيـږي
زمـا شـعرونه ګـوره
ښـهٔ اوس تـهٔ وايـه کنـه
تـهٔ څـهٔ ثبـوت راکـوې
تـل دَ دروغـو نـه ډک
خپـل قسـمونه ګـوره
تـهٔ خپـل لوظونـه ګـوره
زهٔ خـو چـې پـام کوومـه
صـبر ناکـام کوومـه
خو ژوند مې خوبښ دے بلها
ژونـد مـې ګلـزار غوارمـه
اشـنا اعتبـار غوارمـه
سـترګې خُمـار غوارمـه
بيـا يـو اقـرار غوارمـه
راشـه پـهٔ منـډه راشـه
بيـا سـبا کيـږي اشـنا
بيـا بـه هـم تـهٔ خفـه ئـې

ځــــوانـي تېرېږيا شــــــنا
زهٔ خــو چــې څــهٔ غوارمــه
هــر څــهٔ پــهٔ خُلــهٔ غوارمــه
ښــهٔ درنــه ډک پــهٔ ډکــه
دَ میـنـــــې زړهٔ غوارمــــه
کــهٔ دا دَ زهــرو ژونــد وي
بیــا ئــې هــم غوارمــه زهٔ
زمـا هـم داسـې ژونـد دے
هــــر څــــهٔ رانغارمـــه زهٔ
خو ژوند مې خوښ دے بلها
راشــي چــې غــاړه غــړې
لاس ئــې چــاپېر شــي کلــه
لکـه دَ اور پـهٔ مئینځ کښې
سـړے چـې ګېـر شـي کلـه
کــهٔ داســې ژونــد وي زمــا
او ژونــد مــې ډېــر شــي کلــه
نو ژوند مې خوښ دے بلهــا
او ژوند مې خوښ دے بلهـا
* * * *

www.pukhto.net

# لعل

دَ ځوانئ ورځې چې راغلې
رڼاګانې لرې لاړې
زهٔ روان شوم پهٔ تیارو کښې
پهٔ ځنګلو پهٔ میرو کښې
دَ خپل کور نه ، هم جهان نه
هم ورک شوے ووم دَ ځان نه
دا دَ چا دَ مینې زور ؤ؟
بس دَ عشق پهٔ سمندر کښې
پهٔ لټون مې دَ یو لعل ؤم
غم زپلے رپیدلے
زهٔ ورډوب شوم سمندر کښې
اوس ژوندون مې پهٔ خطر ؤ
نهٔ څهٔ لاره نهٔ ګودر ؤ

www.pukhto.net

بس دَ عشق يو سمندر ؤ
چې مې ورو پهٔ ويره ويره
دغه لعل راواخستلو
ايله ژوند مې پهٔ سكون شو
اوس رنګونه راخوارهٔ شُو
بهارونه راخوارهٔ شُو
هم ګُلونه راخوارهٔ شُو
نهٔ څهٔ ويره دَ رقيب وه
نهٔ څهٔ فكر دَ غماز ؤ
بس خوشحاله خوشحالي وه
او زمونږ بېله دُنيا وه
چې مې خپل پردي خبر شُو
هم مې ورونه پهٔ چكر شُو
هم مې مور او پلار راوتر شُو
دا ساده ناپوهه خلق
چې مې خواته رانزدې شُو
دغه لعل ئې ما نه واخست
چرته لرې ئې ګزار كړو
دَ قيمت ئې خبر نهٔ وو
خو غصه كښې كور و كړ وو

www.pukhto.net

ما وئيل کله چې سبا شي
دغه لعل به بيا زما شي
چې سبا ئې پهٔ تکل شوم
هغه لعل ؤ چا مونډلے
دَ بل لاس لهٔ ؤ ورغلے
ښهٔ پهٔ چغه پهٔ ژړا شوم
لېونے يو ځلې بيا شوم
لاړم پرېوتم پهٔ عشق کښې
بيا دَ عشق پهٔ سمندر کښې
هسې لعل پسې کرېږم
هسې لعل پسې ډوبېږم
هسې لعل پسې ورکېږم
زهٔ چې پلار ته مې نازېدن ؤم
زهٔ دَ مور دَ سترګو تور ؤم
اوس يواځې شوم يواځې
نهٔ مې پلار شته نهٔ مې مور شته
نهٔ مې ورونه نهٔ مې کور شته
دَ يتيم غوندې مې حال شو
زما لعل چې دَ چا لعل شو

* * * *

# پښتو

چې ښـــو مره حیـــاداره ده
نـــو دومـــره حســـن داره ده
دا زړهٔ مې پرې راټول شي ټول
بس دومـــره پـــهٔ مـــا ګرانـــه ده
پُښـــتو مـــو مـــورنۍ ژبـــه

پُښــــــتو زمــــــونږه لاره ده
ويــونکي ئــې خــوارهٔ دي تــول
دُښــمن لــره تراخــهٔ دي تــول
ميلمــه لــه کوربانــهٔ دي تــول
اغيــارو تــه تېــرهٔ دي تــول
پــهٔ هــر صــفت مالــداره ده
پښــــــتو زمــــــونږه لاره ده
ســاده ئــې د ے مــنم لبــاس
خو قام ئې د ے بې حد حساس
تو پک ساتي هر وخت پهٔ لاس
اغيــارو لــره خــاص الخــاص
ســــاده ده وفــــاداره ده
پُښــــــتو زمــــــونږه لاره ده
بس قام ئې ښهٔ پښتون د ے هم؟
پهٔ مينه کښې مجنون د ے هم
کــهٔ نــن د ے کــهٔ پــرون د ے هــم
تــاريخ ئــې پــهٔ لتــون د ے هــم
نــو خــهٔ وشــو کــهٔ خــواره ده
پښــــــتو زمــــــونږه لاره ده

* * * *

# تهٔ څهٔ خبر يې کنه

تـــهٔ څـــهٔ خبـــر يـــې کنـــه ؟
چې ښـنګ مې وخت تېرېږي
هـــره لحظـــه خـــو پـــهٔ مـــا
لکـــه قيامـــت تېريـــږي
چې کښـېنم کلـه ځـان لـه
خيـــالي دُنيـــا کـــړم جـــوړه
دَ حُســـن تماشـــه کـــړم
دَ ګُلـــو بـــاغ کښـــې ګـــرځم
ستا حُســن کښـې ورډوب شم
ســتا زُلفــو کښــې ورګــډ شــم
ســتا زُلفــو کښــې ګــډ وډ شــم
زهٔ ورک شـم دَ خپـل ځـان نـه
هـم ورک شـم لـه جهـان نـه

بس نوې شان دُنيا وي
هم زهٔ پکښې اوتريم
ستا زُلفو پسې انخښلم
خو مخکښې مخکښې زغلم
ډېر لرې پورې لاړ شم
خو مخکښې لاره نهٔ وي
واپس شمه راځمه
خو هغه لاره نهٔ وي
پهٔ کومه چې ووم تلے
لهٔ ځانه شم ورک شوے
مودې شي بلها تېرې
وي لارې رانه هېرې
خو ځان ته مې زر خيال شي
دا هر څهٔ تش يو خيال شي
بيا زُلفې دې خورې شي
بيا ختمې دا تيارې شي
آزاد دې شم له زُلفو
خو تش ګوګل هم راشم
زړګے شي مانه پاتې
* * * *

## اُوښکې

زمـا اُوښـکې چــې بهيــږي
چې لـه سترګو مې تـوئيږي
پـهٔ رُخسـار چـې وي روانــې
پـهٔ قطـار چـې وي روانـــې
آخـــر ولــې دا تـــوئيږي؟
آخــر ولــې نـــهٔ ؤدريـــږي؟

زهٔ پـهٔ دې بانـدې حېـران يـم
زهٔ پهٔ دې باندې پښېمان يـم
چې دا سترګې مې ړندې شي
چې مې سترګو ته تيارې شي
دا جهـان بـه رانـه ورک شـي
خپل جانان به رانه ورک شي
بيـا بـه نـور ژاړم پـهٔ چغـو
بيـا به شـور غـواړم پهٔ چغـو
بيـا دَ سـترګو نـم بـه نـهٔ وي
بيـا بـه هغـه صـنم نـهٔ وي
کـوم صـنم چـې يادېـدلو
کـوم صـنم چـې مـا ليـدلو
اخـر خـتم بـه مـې زور شـي
اخـر مينـه بـه پېغـور شـي
دا پېغـور بـه کـړم پـهٔ غـاړه
ځان لـه اور بـه کـړم پـهٔ غـاړه
يا بـه نُـور يـا بـه مسـتي شـم
پـهٔ دې اور بـه يـا سـتي شـم
ځکـه حـال مـې دَ زړهٔ ښـايـم
بس هـم دومـره يـار تـه وايـم

www.pukhto.net

بيا به خاؤرې شمه خاورې
بيا چغې زما نۀ اورې
راشه اوس مې چغه واؤره
څۀ چې وايم هغه واؤره
بس يو ځلې مالـه راشه
ښۀ نزدې مې خوالـه راشه
چې دا زړۀ مې درمعلوم شي
بد او ښۀ مې درمعلوم شي
بيا چې سترګې مې رنړې شي
بيا چې سترګې مې خوږې شي
چې رڼا شي چار چاپېره
يو ښکلا شي چارچاپېره
ديدنونه بلها وشي
ستا رفيق به هله ښۀ شي

* * * *

# رنګين ماښام

يو رنګين غوندې ماښام ؤ
پهٔ شبو شبو باران ؤ
دَ يار مخ ته پهٔ کتو ؤم
چې ئې زُلفې راخوَرې کړې
زهٔ ئې پټ کړم دَ باران نه
چې ئې زُلفې ښې لمدې شوې

يــو يــو څــاڅکے ئــې دَ زُلفــو
څڅېــــدو زمـــا دَ پاســـــه
مـــا وه څُلـــهٔ ورتـــه نيـــولې
چې مرىٔ مې پرې لمده کړم
زر يو څاڅکے مې پهٔ څُلهٔ شو
زړهٔ نشـــه شـــو او اُودهٔ شـــو
بيـا مـې زُلفـې ورلـه تـاؤ کـړې
تاؤ مې دومره کړې نچوړ شوې
بـــس اُوبـــهٔ تـــرې څڅېـــدلې
پـــهٔ مـــا تـولې بهيـــدلې
څـهٔ خـولَې زمـا پـهٔ مـخ وې
څـــهٔ اُوبـــهٔ دَ يــــار دَ زُلفــــو
ســـم پـــرې زهٔ اُولمبېـــدلم
زهٔ پـــرې ښـــهٔ اُولمبېـــدلم
څـــهٔ بــاران دَ يــار دَ زُلفـــو
څـــهٔ مـــاران دَ يـــار دَ زُلفـــو
زهٔ ئـې دغســـې راګېـر کـړم
مـــا دُعـــا دَ ربـــه وکـــړه
چې مې ژوند هم داسې تېر کړم
خـــو ناڅاپـــهٔ يـــو اواز مـــې

دا سې غلے شان ترغوږشو
ما چې ځان بيدارولو
پۀ غوږونو کښې مې ځوږ شو
چې مې سر کړلو راپورته
بيا مې سترګې پۀ کتو شوې
هغه چهت زما دَ کور ؤ
پۀ شليدلي کټ کښې پروت ؤم
نۀ جانان ؤ نۀ باران ؤ
مور ولاړه مې وه سر ته
وئيل ئې شابسې بچيه
پاسه مونځ ؤکړه سحر دے

* * * *

# ګُل

ګُلــه چــې ســپرلے دے نــن
هــر خــوک لېــونے دے نــن
تهيــک ده لېونتــوب ســهي
ســتا دا زلميتــوب ســهي
ځان ته چې پهٔ خيال کښې يې
ورک پهٔ خپل جمال کښې يې
دا حُســن بــه نــهٔ وي تــل
تــا ســره بــه څــهٔ وي تــل
ژوند دې دے يو څو ورځې
ستا دي دَ کمځــو ورځــې
ماليــار درنــه زاريــږي نــن
بــورا درتــه پســخيږي نــن
رنګونــه راخــوَارهٔ کــړه نــن

خپل مئين مارۀ کړه نن
چې څوک درنه خفه نهٔ شي
خطا دې حوصله نهٔ شي
بيا ګورے خزان راځي
تاله به ارمان راځي
پاڼې چې دې سپکې شي
وريژې او ورکې شي
دا چمن کنډر به شي
پاتې ستا ډنډر به شي
ورکې رنګينئ به شي
ختمې خوشبوئ به شي
بيا به دا سې ګُل نهٔ يې
خوش به دَ بلبل نهٔ يې
ماليار به درنه وتختي
خپل يار به درنه وتختي
رفيق بهٔ دې بيا نهٔ ستائي
تا به بيا پهٔ څهٔ ستائي
****

# ارمان

کهٔ ارمان پوره کېدل وي
نو ارمان نهٔ پوره کیږي
چرته یو نیم کهٔ پوره شي
بل نیمګړے پاتې کیږي
چرته دا سې به خوک نهٔ وي
چې ارمان ئې زړهٔ کښې نهٔ وي
دا دَ رب دا سې تحفه ده
چې ژوندون پرې ښهٔ تېرېږي
خو چې یو ارمان پوره شي
بل ارمان ورله پېدا شي
دا ارمان چې سر ته رسي

بـل هـم هلتـه زړهٔ کښـې راشـي
دا څرګنــــــده فلســـــفه ده
پــهٔ معنٰــی ئــې ښــهٔ پــوهېږم
خــو ګیلــه زمــا پــهٔ دې ده
ځکــه هــر وختــې ژړېــږم
چــې دَ ډېــرې مــودې راســې
يــو ارمــان زمــا پــهٔ زړهٔ دے
لا تــرا وســه پُــوره نــهٔ شــو
چرتــه بــل لا پېــدا نــهٔ شــو
زهٔ پهٔ دې طمع کښې ناست ؤم
چې ارمـان بـه مـې پـوره شـي
خـو ژونـدون پـهٔ تېرېـدو دے
او ارمــان نــهٔ پــوره کيــږي
زهٔ خــو ځکــه داســې وايــم
کــهٔ ارمــان پــوره کېــدل وي
نــو ارمــان نــهٔ پــوره کيــږي
چرتــه يــو نــيم کــهٔ پــوره شــي
بــل نيمګــړے پــاتې کيــږي

* * * *

www.pukhto.net

تنګ شمه دَ ځان نه ، خو دَ ځان نه چرته ؤتختم
تېښته کۀ دَ زمکې کړم ، اسمان نۀ چرته ؤتختم

کور مې هم جونګړه ده چتونه ئې راڅاڅي تول
داسې راورېږي دَ باران نه چرته ؤتختم

ناست یم ولایت کښې اوس مې خپل کلے وطن ژاړم
دا به مې وئیل ، چې پاکستان نه چرته ؤتختم

فطرت دے دَ انسان چې خوشحالیږي نۀ هیڅ حال کښې
کله کله وایم چې جانان نه چرته ؤتختم

ځمه دَ دې شور نه خاموشۍ له دَ ځنګل پۀ لور
زړۀ مې شو راډک چې دَ انسان نه چرته ؤتختم

څیرې ګرېوان څۀ کوې رفیقه راپسې دے اور
ګټه خو لا پرېږده دَ تاوان نه چرته ؤتختم

* * * *

www.pukhto.net

کۀ مې زخمي زړۀ ترېنه هر څومره ټکور واخستۀ
ستا دَ تاؤژنو اننګو مې شُونډو اور واخستۀ

ګُل رُخې تا دَ محبت رشته ونۀ پاللۀ
ما وچ پۀ وچه ستا پۀ سر باندې پېغور واخستۀ

ستا دَ عزت خبره راغله ، دَ پښتو وطن ؤ
ځکه مې جام دَ محبت درنه نسکور واخستۀ

جانانه ماته چې محفل کښې لږ مُسکے غوندې شوې
تۀ څۀ خبر ئې چې رقيب پرې څومره زُور واخستۀ

بيا بۀ رفيق پکښې دَ مينې پټ پټهوني کوي
کۀ ئې يو ځلې ستا پۀ زړۀ کښې ځان له کور واخستۀ

* * * *

زۀ یم ، سُور ګلاب دے ، ستا پۀ سر دواړه ګیلې کوؤ
راشــه کنــه یـــاره انتظـــار دې دَ وعـــدې کـــوؤ

ستا غوندې خو نۀ یُو چې تنکۍ تنکۍ خبرې کړو
نـر مـې نرمـې وایُـو خـو خبـرې ښـې پښـې کـوؤ

دا دَ زړۀ نــه ؤباســه چــې لاړو دَ لنـدن شــو یـــار
دواړه پُښــتانۀ یُــو محبــت بــه پښــتنې کـــوؤ

کلـه مـرور شُـو دَ یـو بلـه سـختې تېـرې کـړو
خپلــې نـــادانۍ بانـــدې بيـــا ؤژاړو تـــوبې کـــوؤ

تاته داسې ښکارو چې هیڅ غم پۀ زړۀ کښې نۀ ساتو
خانـدو کـۀ دَ ورځــې ژړېـده دَ نیمـې شـپې کـوؤ

هغــه ورځــې لاړې چــې يـــارانو وې رفیقــه يـــار
راشه مازیګر دے ځو پۀ سېل لرې قیصې کوؤ

* * * *

ورځ پـهٔ ورځ مې تنـده زیاتېدلـه بـس
شـونډه دَ ارمـان مـې شـنه کېدلـه بـس

ښـکلې وه بـل شـان نـرۍ نـرۍ دا سې
لختـــه دَ ګُلونـــو ماتېدلـــه بـــس

راغله تماشې له ئې سپوږمۍ ښکلې
دا سې وه سپوږمۍ ترې شرمېدله بس

مخ باندې سُرخي دَ یار مدام وي خو
نـن ئـې اننګـو کښـې خوَرېدلـه بـس

بـاغ کښـې دَ ګُلونـو نـن روانـه وه
ښـکلې لـه ګُلونـو ښـکارېدله بـس

یو خوا مې غربت ؤ ، بل پېغور دَ یار
سـاه بـه مـې رفیقـه هـم وتلـه بـس

* * * *

ګُل پسې چې ځم مخکښې ازغو پسې به ځمه زهٔ
وروستو بيا لهٔ دې نه پهٔ کمځو پسې به ځمه زهٔ

روغ خلق پرېږده منافقت لري پهٔ زړونو کښې
خوښ مې لېوني دي لېونو پسې به ځمه زهٔ

مخې ته مې ږدي تيرهٔ ازغي زما پهٔ لارو کښې
خپلو توبه ګار کړمه پردو پسې به ځمه زهٔ

ماله کهٔ مې رب دومره اختيار راکړي قيامت کښې نو
منډې به وهمه پُښتنو پسې به ځمه زهٔ

کله چې نشو او تماشو ته مې هم زړهٔ کيږي
ځمه دَ رفيق ښکلو نغمو پسې به ځمه زهٔ

* * * *

www.pukhto.net

داسې راته ښکارې چې لۀ ځانه جُدا کېږمه
ګرانه ده جانانه زۀ چې ستا نه جُدا کېږمه

تۀ زما دَپاره يو رقيب هم پرېښودے نۀ شې
زۀ خو ستا دَپاره دَ هر چا نه جُدا کېږمه

خپله غريبي مې لرې باسي دَ مور غېږې نه
څنګه به دَ خپلې پښتونخواه نه جُدا کېږمه

بس دا اخري ديدن پۀ مينه راپېرزو کړه لږ
وخته لږ ايسار شه دَ اشنا نه جُدا کېږمه

يار مې کبرژن ؤ خو نن ژاړي راته وائي دا
غاړه راله راکړه رفيق جا نه جُدا کېږمه

* * * *

داسې څو نغمې مې دَ قلم ژبې ارشاد نۀ کړې
سپورې خوَرې زُلفې مې راتولې دَ هيواد نۀ کړې

ما تـه کـۀ هر څۀ وائې رقيبه ګـورے خيال کـوه
چرته چې جانان مې دَ جانان پۀ نامه ياد نۀ کړې

ښۀ پکښې خوشحاله يم کـۀ ټول عمر قيدي يمه
ستا دې وي قسم چې ما دَ زُلفو نه ازاد نۀ کړې

بس دے دا پوره ده چې ګرېوان مې تر لمن څيرې
دا تالـه والـه ژوندون مې نـور يـاره برباد نۀ کړې

ښنګ بـه درتـه وايـم چې دَ مينې لېونے دې يم
ستا دَ کوڅې خاورې مې رفيقه پۀ سر باد نۀ کړې

* * * *

ستا غمونه پهٔ زړګي مې راغوټه شي
چوي لهٔ غمه هسې خاندي پهٔ ټپه شي

ښهٔ ئې وينو راته ښکاري ښهٔ کړه وي
خو چې مونږ ته رارسيږي نو کوټه شي

حق حيران يمه دې خپل سپېرهٔ قسمت ته
څهٔ چې کړمه څهٔ چې غواړمه اُلټه شي

بيا مې شونډې دَ پيالې مورګې پرېږدي نهٔ
ستا پهٔ سرو شُونډو چې کله هم جوټه شي

پهٔ رفيق باندې څهٔ چل کيږي جانانه
پهٔ رُخسار چې دې راښکته لُوپټه شي

* * * *

www.pukhto.net

زهٔ کـهٔ تـا نـهٔ پېژنمـه يـاره ځـان خـو ډېـر پېــژنم
زهٔ مـــې انجـــام دَ ارمـــانو پـــهٔ زوَر زېـــر پېـــژنم

تهٔ چې پوره نهٔ کړې وعدې نو بانې څهٔ لهٔ کوې
زهٔ دې دروغ هـــم پېژنمـــه زهٔ دې هېـــر پېـــژنم

دَ خپل منزل پهٔ لوري ځمه کهٔ هر څهٔ پېښيږي
زهٔ دَ ازغـو شـپول دَ ګـُلاب نـه هـم چـاپېر پېـژنم

زهٔ دَ ښـکاري مارغـهٔ کـږه مخُوکـه هـم پېـژنم
زهٔ تېـره غوځـه هـم يـارانو دَ شمشـېر پېـژنم

زړهٔ خو مې غواړي چې خپل ځان درته لوګے کړمه تول
رفيقـه نـور نـهٔ سـپېلني او نـه نمبـر پېـژنم

* * * *

www.pukhto.net

روُغ انسان وي خو ناڅاپهٔ لېونے شي
دَ ارمان به څهٔ علاج وي چې زلمے شي

راشه راشه چې ښکلا ئې یو پهٔ دوه شي
ګُل دَ ګُل دپاره ګُل شي چې سپرلے شي

یو یو یار مې دَ وطن راته رایاد شي
پهٔ لندن کښې چې رنګین مازیګرے شي

سرې لمبې دې دَ رخسار نه داسې خیژي
چې نظر مې ورته ټول لوګے لوګے شي

پهٔ مُلیانو مې ډېر وکړل تعویزونه
مړې ! زړهٔ مې ستا نه کله صبرېدے شي

چې رفیق ته دې پهٔ مړو سترګو کاتهٔ کړې
لکه مَړي کښې ساه راشي راژوندے شي

* * * *

❁

پــهٔ لنـــډه زنـــه دې خالونـــه دلربـــا ایښـــي دي
یــو څــو داغونــه دې پــهٔ زړهٔ بانــدې زمــا ایښــي دي

ســـر کـــړه راپورتـــه کبرژنـــه ســـلامونه واخلـــه
پــاس پــهٔ تنــدي درتــه جــوړه لاســونه مــا ایښــي دي

څهٔ بـه راتـول کـړم پـهٔ ازغـو بانـدے شلیدلے ګرېـوان
دا سرهٔ ګُلونه پـهٔ کمڅو کښـې درتـه چـا ایښـي دي؟

رقیـــب بـــه څـــهٔ زمـــونږ دَ مینـــې مـــانړۍ وُنـــړوي
چـــې بنیادونـــه ورلـــه مـــونږه پـــهٔ دُعـــا ایښـــي دي

راشـــه خیبـــر او ملاکنـــډ تـــه بـــه دې زړهٔ پســـخیږي
چې پښتونخوا کښې قدرت نخښې دَ ښکلا ایښي دي

ســتا بــه لاســونه وي زخمــي پــهٔ وینــو ســرهٔ رفیقــه
مــا هــم اختــر کښــې ســرې نکریــزې پــهٔ ژړا ایښــي دي

❋ ❋ ❋ ❋

ستا پهٔ څنګل باندې خوبونه هسې خوب لیدهٔ دي
چې رانه تاؤ کړې سرهٔ لاسونه هسې خوب لیدهٔ دي

اوس به خوندونه دَ هجران دَ سرو غرمو اخلمه
دا ستا دَ زُلفو ارمانونه هسې خوب لیدهٔ دي

ښهٔ پهٔ خندا او خوشحالۍ به ئې ساتمه یاره
چې رانه لاړ شي ستا غمونه هسې خوب لیدهٔ دي

اوس به ازغي پهٔ ګریوانهٔ کښې ځان له ړدمه یاره
چې راله راکړې سرهٔ ګُلونه هسې خوب لیدهٔ دي

نور مې رفیقه دَ جانان نه طمع قطعی ښهٔ ده
کله به ؤشي دیدنونه هسې خوب لیدهٔ دي

* * * *

ستا ډاډ چې راسره وي ، خپل همت راسره مل وي
منزل ته به رسېږم چې قسمت راسره مل وي

تا له به درځمه خېر دے لاره کهٔ ازغنه وي
رېښتيا کهٔ دې جانانه محبت راسره مل وي

خپله مې پرواه نشته رقيبه دَ يار غم کوؤم
دا خوئې چې لرم نرم نزاکت راسره مل وي

سوزم لکه شمع ياد دې تاؤ کوي لمبې کوي
دا زهٔ چې ويلې کېږم حرارت راسره مل وي

رفيقه خزانې مې دَ سرو زرو پکار نهٔ دي
چې مينه راسره وي هم عزت راسره مل وي

* * * *

www.pukhto.net

کـهٔ باچـه دَ زمـانې شي بـل وطـن کښـې
دَ وطـن ارمـان کـوي پـهٔ زنکـدن کښـې

سـرهٔ ګـُلان چې چرتـه وينمـه چمـن کښـې
وايـم تـول چـې درلـه راوړمـه لمـن کښـې

سـر بـه هـم لـهٔ پښـتونخوا دَ سـرنه زار کـړم
جوش مې ويني دے وهلے پـهٔ بدن کښـې

زمـا اُوښـکې بـه امېـل دَ پښـتونخوا شـي
ځاځکې ځاځکې چې نن ځاځي پهٔ لندن کښې

مال دولت دَ ځـان نـه مخکښـې ليـږل ښـهٔ دي
جيـب خـو نـهٔ جـوړوي خلق پـهٔ کفـن کښـې

چـې سـحر شـي پـهٔ روزګـار شـمه رفيقـه
بس وزګار دې شم تصوير ته ما سخوتن کښې

* * * *

www.pukhto.net

# سندره

ما ته رښا تيارې تيارې کړه ، ماله خوب نۀ راځي
پۀ ما دې زُلفې راخوَرې کړه ، ماله خوب نۀ راځي

کله چې ستا نه لرې کېږم اشنا
نو بيا پۀ خوب پسې ړند ېږم اشنا

لږ خو مې غېږې ته نزدې کړه ، ماله خوب نۀ راځي

کله به وي چې ښۀ پۀ خوند اُودۀ شم
ستا پۀ څنګل ستا پۀ مړوند اُودۀ شم

پوُره ارمان مې دَ مودې کړه ، ماله خوب نۀ راځي

ستا پۀ څنګل چې زۀ اُودۀ شم ياره
تازه تازه شمه بيا ښۀ شم ياره

زۀ به شم ښکلے ښکلې شپې کړه ، ماله خوب نۀراځي

رفيق چې ګرځم دا سې زيَړه ګُونه
شُونډې مې وُچې خړه پړه ګُونه

زما نه لرې شوګيرې کړه ، ماله خوب نۀ راځي

* * * *

www.pukhto.net

دا خپله لوپټه مې پۀ زخمونو باندې تړي
کۀ هسې مې جانان پۀ څۀ چلونو باندې تړي

زُلفې رانه تاؤ کړه ، ګنې نور به هم خراب شمه
یار ، خلق لېونې پۀ زنځیرونو باندې تړي

ښاخې مې نن سرې وینې اختر کښې دَ لاسونو نه
جانان خو بۀ نکریزې پۀ لاسونو باندې تړي

اغیارو هسې مۀ چیچئ غاښونه پُښتونخوا ته
اے سرې پټے ئې خلق پۀ سرونو باندې تړي

رفیقه ستا شعرونه ، تکورونه تعویزونه
مئین خو بۀ ئې خامخا پۀ زړونو باندې تړي

* * * *

www.pukhto.net

جانـان چـې راسـره وے زمـا بـل ښـکلې ځـواني وے
ارمـان چـې همېشـه لکـه دَ ګُـل ښـکلې ځـواني وے

مونږ به پهٔ دې دوه ورځې ژوندون کښې مينه څهٔ وکړو
اے خوند خو به هله وے چې مو تل ښکلې ځواني وے

چې تـوره نيمـه شـپه کښې مـو خـوَږې قيصـې کـولے
او پروت وے زما سر ستا پهٔ څنګل ښکلې ځواني وے

چـې مـا دې يـو يـو تـار دَ سـپين جبـين نـه اړولـے
او تا وے راخور کړے تور وربل ښکلې ځواني وے

کلـه سـره غرمـه وے زهٔ او تـهٔ وے دَ سـيند غـاړه وے
او کله سيورے وے څنګل ښکلې ځواني وے

چـې مـا خپلـې پښـتو لـه څنـه سـترګه جـوړولے
زمـا چـې هـم رفيقـه دَ غـزل ښـکلې ځـواني وے

* * * *

مینه مې تاله شوله دَ زړهٔ دُنیا مې ورانه شوه
دومره شوم حېرانه چې دُنیا راته حېرانه شوه

ډېره پهٔ اسانه زهٔ کوے شم ، دَ رقیب علاج
لوبه خو پهٔ اصل کښې هم ورانه له جانانه شوه

څومره چې زړېږي مینه دومره مې ځوانیږي لا
مخکښې ګزاره وه اوس خو سمه راته ګرانه شوه

ورک شو ټول مارغان هم دَ چمن حُسن پیکه شولو
تلو چې پسرلے نو دَ ښائست کډه رَوانه شوه

زور دَ محبت ته دې لږ پام وکړه رفیقه تهٔ
ببرته راستنه شوله پهٔ تلو باندې پښېمانه شوه

* * * *

# نوے کال

ښې ګُل مې کړه دَ ژوند لارې ګُدرې ، نوي کاله
بيا راوله پهٔ شُونډو مې سندرې ، نوي کاله

قسمت دے کهٔ همت دے زريې را کړه چې دمه شم
منزل مې کړه رالنډ دَ لرې لرې ، نوي کاله

چرته يو موسم پهٔ مونږ پېرزو دَ ديدنونو کړه
چې يو بل سره اوکړو ښې خبرې ، نوي کاله

خيال چې مې الوت غواړي پهٔ بره اسمانونو کښې
نو ورکړه ورله ښې خوَرې وزرې ، نوي کاله

رفيق به ترېنه جوړ کړي امېلونه پُښتونخوا له
خو تا کهٔ ورله راؤړې ملغرې ، نوي کاله

* * * *

www.pukhto.net

ستا دَ انتظار غمونو وخوړم
راشنه کنه يار ، غمونو وخوړم

ستا دَ عشق تبې سم نيولے يم
پروت يمه بيمار ، غمونو وخوړم

يو خوا مې دَ يار غم را پهٔ سر شولو
بل خوا دِ روزګار ، غمونو وخوړم

يار چې بې وفا شي نو عذاب شي ژوند
خوښ يمه پهٔ دار ، غمونو وخوړم

ستا چشمان چې نهٔ وينم رفيقه زهٔ
نهٔ راځي قرار ، غمونو وخوړم

* * * *

هلته چې ستا دَ حُسن نمر ولګېد
دلته زما اُور پهٔ ځيګر ولګېد

ما دَ ديدن خوَندونه وانهٔ خستل
هسې الزام زما پهٔ سر ولګېد

خلق دروغ وائي کهٔ ځې پهٔ رينبتيا
زما پهٔ غوَږو څهٔ خبر ولګېد

دَ پُښتونخوا دَ عاشقانو الزام
پهٔ ملاکنډ او پهٔ خيبر ولګېد

رفيقه يار زما نه څهٔ خبر دے
چې مې پهٔ زړهٔ نوے پرهر ولګېد

* * * *

www.pukhto.net

مينــه دَ پتنــګ وي دَ لمبــو پــهٔ ســر
اخلمــه پېغــور ســتا دَ پُښــتو پــهٔ ســر

څــهٔ خــو دنداســه ده څــهٔ نکريــزه ده
نور کهٔ څهٔ ښائسته ئې دَ رنجو پهٔ سر
بې لهٔ مـا نـه ستا هم څهٔ قيمت نشـته
ګُل کهٔ هر څو ګُل دے دَ ازغـو پـهٔ سر
شپه مې انتظار کښې ښکلې تېره کړه
ستا کوڅه کښې ناست ؤمه دَ پښو پهٔ سر
څنـګ چې لکـه پرخـه پـهٔ ګُلونـو وي
داسـې دې خولَـه ، دَ اننګـو پـهٔ سـر
ګورې به پهٔ تل کښې دَ درياب سيپۍ
خَـس خشـاک روان وي دَ اُوبـو پـهٔ سـر

وَلــې پــهٔ ښــو دَ خپــل رفيــق زړګــے
دے خو ئې ژوندے دے دَ لېمو پهٔ سر

* * * *

مړ شوم ، لېونے شوم بس اظهار اوکړه
خدائے خو دې جانانه زړهٔ کښې لار اوکړه

ګُل به مې شي مړاوے زما لاسو کښې
يـاره پـهٔ راتلـو کښې لـږ تلـوار اوکـړه
بلې مې شي زړهٔ کښې دَ اُميد ډيوې
تـهٔ چې راتـه وايې انتظـار اوکـړه
خدائے خبر تپوس ئې ترېنه کړے کهٔ
هسې تسلي زمـا ريبـار اوکـړه
څه چې څې ، رقيب ئې راله يار کړلو
ښکلي پېرزوئنه نه پهٔ ما يار اوکړه
تـا چې وې ازغے ئې دَ رقيب دَ لار
پوهـه شـوم خبـره دې دَ کـار اوکـړه

يـا خـو غـاړه کېږده کهٔ رفيق مې ئې
يـا زمـا دَ مينې نـه انکـار اوکـړه
* * * *

www.pukhto.net

نـۀ لـرم اختيـار مــې پـۀ ځيګــر بانــدې
هســې مــې الــزام لګــي نظــر بانــدې

بې لـه تـا نـه سترے يـم پـۀ سترې ژونـد
خېـژم لکـه غـر تـه چـې پـۀ غـر بانـدې

داسـې دې زمـا نـه الواتـۀ هېـر کـړه
ويشــتے لکــه بــازوې چــا وزر بانــدې

بـې مينـــې ژونـــدون دا ســې ګنهـــه زهٔ
پـروت چې لکـه پېتـې وي پـهٔ خـر بانـدې

ګـوره کنـه ! اور شـي ورلـه خپـل ښائسـت
ګــل چــې رامــاتيږي پــهٔ ډنــډر بانــدې

شـــيخ دَ مېخـــانې پـــهٔ وَر دننـــه شـــو
جـام ئـې رانسـکور کړلـو پـهٔ سـر بانـدې

خپـل سر بـه سر تور کړې نور بـه څهٔ وکړې
مـهٔ کــوه ښــېرې پــهٔ مــازيګر بانــدې

ســتا دَ زُلفــو ســيورے دَ رفيــق عــلاج
ګرځــي لېــونے درپســې نمــر بانــدې

* * * *

تبر شي خاموش مازيګرے پهٔ ګودر
لکه راغلے وي مرګے پهٔ ګودر

دَ وچو پانو ګېر چاپېره خلے
نهٔ راځي هغسې سپرلے پهٔ ګودر

څهٔ پهٔ ژړا ژړا ئې مور ته ووې
زما نه مات شو مېخکے پهٔ ګودر

ما هم ښادر لهٔ دُوړو ښندهٔ وهلو
تا چې پهٔ سر کړلو منګے پهٔ ګودر

ستا دَ زُلفانو خوشبويۍ چې نهٔ وي
اُوبهٔ به څهٔ وڅښي زرګے پهٔ ګودر

رفيق ليدلې ښاپېرۍ وه پکښې
ځکه راتېر شو لېونے پهٔ ګودر

* * * *

www.pukhto.net

مُلا وعظ نصیحت دې اوس سمبال کړه
دوزخي دې کړم جنت دې اوس سمبال کړه

یاره ښکلې پېرزوئنې خو دې وکړې
دا پُوره دي ، محبت دې اوس سمبال کړه

دا دے کړه ستا دَ لاسه ؤړم لهٔ کلي
دغه چم دغه محلت دې اوس سمبال کړه

ستا دَ سرو او سپینو شرط ته ملا تړمه
تهٔ دَ گُل غوندې صورت دې اوس سمبال کړه

اے رفیقه میني شومره قیمتي کړې
دا دَ فن ، هنر ،دولت دې اوس سمبال کړه

* * * *

هر څوکۀ ښائسته هم دے مغرور هم دے
یـار زمـا دَ مینـې نـه مجبـور هـم دے

مـا بــه وو کتلـــې دَ رقیـــب ســـره
دې کښې دَ جانان څو څۀ قصور هم دے

نـور رانـه یـارانو تاسـو څـۀ پوښـتئ
زړۀ مې دے ، زما دَ سترګو نُور هم دے

دې لــه بــه څـۀ غـم هـم خامخـا کـوۀ
زړۀ هم دے ، خو خپته یو تنُور هم دے

هســې مــې رفیقــه پــردې نـۀ وژنــې
دې کښې مې دَ خپلو لاس ضرور هم دے
* * * *

www.pukhto.net

## سندره

راغلے پسرلے دے سرۀ غوټۍ یې تۀ
څـۀ ښائسـته جینـۍ یـې تـۀ
نـۀ شـې دَ نظـره
یـاره یـو دیـدن رالـه دَ شـپې راوړه
خوندکوي تۀ راشه شوګیرې راوړه
ښکلې ئې رڼا رڼا سپوږمۍ ئې تۀ
څـۀ ښائسـته جینـۍ یـې تـۀ
نـۀ شـې دَ نظـره

www.pukhto.net

خلق درته ګوري ، ګورے پام کوه
ګوره ښـهٔ چاپېره بيـا سـلام کـوه
ولاړه سرهٔ جوړه کښې پهٔ بلې يې تهٔ
ځـهٔ ښائسـته جينـۍ يـې تـهٔ

نـهٔ شـې دَ نظـره

زهٔ چې درتـه وايمـه زړګے يې تـهٔ
تـهٔ وائـې رفيقـه لېـونے يـې تـهٔ
زهٔ يـم لېـونے کـهٔ لېـونۍ يـې تـهٔ
ځـهٔ ښائسـته جينـۍ يـې تـهٔ

نـهٔ شـې دَ نظـره

* * * *

یاره پهٔ ژړا پهٔ نیمه شپه شم چې تا یاد کړم
ستړے شم دَ ورځې ښهٔ دَمه شم چې تا یاد کړم

تهٔ دَ جُدائي دَ تاؤ دَ زوره څهٔ خبر یې
زهٔ لوګے لوګے شمه لمبه شم چې تا یاد کړم

ګُل نه یې نو څهٔ یې زما ګُله ښکلي ګُله
ګوره کنه ! زهٔ وریمه وریمه شم چې تا یاد کړم

راشه کنه یاره څهٔ عجبه تماشه ده
ناست یمه پهٔ سیوري تهول خوَله شم چې تا یاد کړم

مانه چې رفیقه تهٔ هم کله مرور شې
بیا دَ خپله ځانه هم خفه شم چې تا یاد کړم

* * * *

## بې وَسي

تـا تـه هـم ښـهٔ پتـه وه جانانـه زمـا خـوښ وې ډېـر
تا راله پهٔ خپـل زړهٔ کښـې مقـام هـم ښـهٔ راکـړے ؤ
ځه کنـه ! لـږ سـوچ وکـړه جانانـه سـترګې پټـې کـړه
هغـه ورځـې يـادې کـړه چـې مـا درتـه اظهـار وکـړو
مــا پــهٔ انختــي ژبــه درتــه ټولــه قصــه وکړلــه
ما چې درته حال دَ زړګي ووې پهٔ قسطونو کښـې

تهٔ هم ښهٔ هوښيار وې ښهٔ پهٔ هر څهٔ باندې پوهه وې
تا تـه هـم احسـاس زمـا دَ زړهٔ دَ هـر پرهـر ؤشـو
بيـا دې هــم خبــره جوړولــه ورانولــه يــار
تـهٔ دَ خپـل زړګي نـه هم مجبوره وې رضا شولې
بيا دې پـټ پټـوني بـه کـؤل لکـه ماشوم چې يې
زهٔ هـم مطمئـين شـوم هـر پرهـر پـهٔ رغيـدو شـولو
داسې لکـه ګُل مې پـهٔ زړګي کښې ټوکيدلے وې
تن بدن مې ټول وړمه وړمه شـولو خوشحاله شـوم
دُومره شومه مست چې ټول دَ ځانه بې اختياره شوم
داسې ورځې راغلې چې دَ څهٔ نـه متـاثره شـوې
تا وې چې پهٔ غـاړه کړم امېل دَ سپينو سرو زرو
دُومره وس مې نهٔ ؤ چې تـا لـره جوړ کـړے وے
بيا مې درته لاس پهٔ سينه کيښودو چې خبر به شي
تـهٔ هم ښـهٔ خبـر وې بـس زمـا دَ بې وسـئ ځنـې
زر دې نيت بـدل کړلـو پـهٔ ګڼو وډو سـر شـولې
ما ووې څه خبر به شي تر څو چې زهٔ ژوند ے يمه
سـتا دَ فرمـائش هـره ادا ؤړمـه پـهٔ سـر سـترګو
ځکـه مـې وطـن پرېښـودو بـل وطـن تـه لاړمـه
تا ته مې پيغام درکړو چې زر به زهٔ واپس راشم
تــا هــم مجبـورئ نــه ناجــائزه فائــده واخســته

ځان له دې بل يار دَ مينې ؤنيوو پهٔ شا شولې
زهٔ خو مُسافر ؤم پهٔ پردي وطن کښې ناست ؤمه
تا مې پهٔ زړګي کښې څهٔ ناڅاپهٔ چړې ښخې کړې
ما وې ښهٔ ده مړ به شم دَ غمه به دې خلاص شمه
لا بـه مـې جانانـه بـس دَ مـرګ نښتـه پـوره نـهٔ وه
دا پرهرې زړهٔ به مې اوس چرته هم راتول نهٔ شي
تــا رالــه دَ مينــې بدلــه هــم ښــکلې راکړلــه
بيا هم دا دُعا کووم چې يـاره تهٔ خوشحاله يې
زهٔ چـې ليونے سـپيلنے ګرځمـه خوشـحاله يـم
ټول عمر به زړهٔ خورمه پهٔ ځان باندې به چک لګوم
تــا رالــه پيـدا کړلـو رقيـب دَ کـومې ډډې نــه
* * * *

نـه دَ خپلـو نـه ګيلـه نـه لـهٔ پـردي کـړم
تـل ګيلـه زهٔ لـهٔ دې خپـل سپېرهٔ تندي کـړم

تـل دَ خپـل عقـل دَ لاسـه خُـورم ډغـرې
دا پُـوره ده اوس بـه خوښـه دَ زړګـي کـړم

چې اوزګار شم ستا دَ لاس نخښې راواخلم
ښې ئې ښکل کړم بيا ئې هغه ځائے خُوندي کړم

دَ خفګان نه دَ خپل ځان سره پهٔ جنګ شم
زهٔ چې کلـه سـتا دَ يـاد نـه بې رُخـي کـړم

نهٔ زُلفان شته ، نهٔ کرېوان شته اوس رفيقه
څـهٔ قصـه بـه زهٔ دَ ګُـل څـهٔ دَ ازغـي کـړم

* * * *

پهٔ سپین مخ دې انـډوخر دَ تورو زُلفو
خزانې پسې لښکر دَ تورو زُلفو

مونږ به هله دَ پِتاؤ خوندونه واخلو
راښکاره کهٔ شولونمر دَ تورو زُلفو

زړهٔ مې غواړي چې شپه رُونه کړم سپوږمۍ ته
خو ثنګ پورته کړمه سر دَ تورو زُلفو

دا سپوږمۍ شوه راښکاره پهٔ توره شپه کښې
کهٔ دې مخ شو رابهر دَ تورو زُلفو

دَ رفیق علاج ویشتل نهٔ دي پهٔ کاڼو
لیوني له خو بس غر دَ تورو زُلفو

* * * *

www.pukhto.net

احترام ئې دا سې کړم لکه حرم دے
ستا کوڅه ده ، کۀ دې کلے ، کۀ دې چم دے

خپل معشوق چې دې زمونږه رهنما کړو
ربه ستا رابانـدې څومره لوئې کرَم دے
ستا ستائل زما دَ وَس خبره نۀ ده
زۀ چې څومره ستا صفت کوومه ، کم دے
لږه نوره بې رُخې ؤکړه جانانه
رسيدلے مې منزل ته بس قدم دے
څۀ به تۀ څۀ به دې زُور وي زُوروَره
ستا دې تُورې له پوره زما قلم دے
پۀ سپرلي کښې بوراګان ګُلونه ښکل کړي
تۀ رایاد شې ، کۀ تۀ راشې ښۀ موسم دے

نۀ ئې خپل کړې نۀ لۀ تا نه صبرېدے شي
خپل رفيق دې اړولے پۀ څۀ غم دے
* * * *

لمبه لمبه شي مازيګر لوګي ماښام ونيسي
چې مې جانان راته پۀ سرو لاسونو جام ونيسي

ستا دَ راتللو دَ وعدې وختونه بېرته لاړ شي
کنه بې وخته ګُل پۀ کلي کښې بادام ونيسي

زما دَ يار نه دَ وفا طمع څۀ دا رنګې ده
لکه نارنج راله ميوه چرته دَ آم ونيسي

دَ خېر ښېګړې خاوندان لاندې پۀ زمکه کيني
دَ دې وطن سړي خواره ترې بره بام ونيسي

زړۀ خو مې غواړي چې اسمان نه درله ستورې راوړم
خو بې وسي مې راته لارې هم مُدام ونيسي

داسې بې وخته دې پۀ زُلفو کښې راګېر کړو رفيق
لکه ښکارې چې دَ سحر مارغه پۀ دام ونيسي

* * * *

www.pukhto.net

بس کړه زما نه شه قلار طبيبه
دغسې ښۀ يم نا قلار طبيبه

يا خو دې نشته هيڅ څۀ کار طبيبه
يا دې موندلے يم وزګار طبيبه

ولې علاج مې دَ مازغو کوې تۀ
زۀ خو دَ زړۀ يمه بيمار طبيبه

تۀ مې دَ زړۀ پۀ علاج نۀ پوهيږې
زما علاج دے زما يار طبيبه

ما له دَ خوب داروګان مۀ راکوه
ما کړه غمونو ته بيدار طبيبه

رفيق پۀ غم کښې يم دَ يار خوشحاله
چې راله رانۀ کړې قرار طبيبه

* * * *

ګران دي دَ دې ښار دَ او سېدو اُصول
دلتــه محبت دے دَ دهوکــو اُصــول

ښـې راتــه راډکـې پېمـانې کـړه نــن
جام نسكورول نۀ دي دَ څښو اُصول

ځانګه خبر دے بيا دَ محبت پۀ تال
زدۀ کړه پۀ دي تال دَ ځنګېدو اُصول

بې دَ محبت نـه نـور څۀ نـۀ منـو
دغـــه دي زمـــونږ دَ لېونـــو اُصـــول

پيغلې لُوپټه دَ سر نـه لـر نـۀ کـړې
مات نۀ کړې زمونږ دَ پُښتنو اُصول

نېغ نېغ دَ رفيق سترګو ته مۀ ګوره
دا نۀ دي محفل کښې دَ کتو اُصول

* * * *

زهٔ خوب کوومه دَ خوبونو پهٔ نیت
ستا دَ دیدن دَ ارمانونو پهٔ نیت

ما له دا سترګې دَ خُمار ډکې کړه
نن به درځمه دَ جامونو پهٔ نیت

ګوره نکریزې دې پهٔ سر پورې کړې
زهٔ ئې راوړمه دَ لاسونو پهٔ نیت

زهٔ دَ ازغو دَ لاسه تش راځمه
ګُلشن ته ځمه دَ ګُلونو پهٔ نیت

تهٔ دَ کوځې ور ته ځنځیر واچوې
رفیق راځي دَ دیدنونو پهٔ نیت

* * * *

www.pukhto.net

راغے مې دَ مينې امتحان پهٔ سر
خېژم به پهٔ دار مې دَ جانان پهٔ سر

جوړې مې پهٔ مخ دَ اُوښکو لارې شوې
حُسن رانه يوړلو باران پهٔ سر

وخت دې دَ راتلو راته راوښائي
بانګ چې چرګوټے کړي دَ ډېران پهٔ سر

زهٔ انسانيت ته نېغه لار ښايم
زهٔ کهٔ مُسلمان يم دَ انسان پهٔ سر

تهٔ چې دې رفيق لکه ازغے ګڼې
خاندې به ئې تهٔ دَ ګُل پهٔ شان ، پهٔ سر

* * * *

اخلمــه قــدم چــې دَ وربــل پــۀ لــور
ځم دَ دې نه مخکښې به دَ ګُل پۀ لور

کلــه دې مړيــږم پــۀ ديــدن يــاره
نــۀ ګورمــه زۀ ګنــې دَ بــل پــۀ لــور

مړ کۀ شوم الزام به مې پۀ تا لګي
مړۀ مړۀ چې مې تۀ کوې کتل پۀ لور

دلتــه ښــاريه کښــې فريبونــه دي
ځمــه روانيــږم دَ ځنګــل پــۀ لــور

سُــيوري تــه دَ زُلفــو دې پــړاؤ کــووم
زغلمه بيا مخکښــې دَ منزل پۀ لور

ګــورم دَ اســمان پــۀ لــور رفيقــه زۀ
نۀ ګورم پردو تــه ، نۀ دَ خپل پۀ لور

* * * *

www.pukhto.net

راکوې مالـه دردونـه ، زهٔ درکومـه راحتونـه
ستا پهٔ لاسو کښې ازغي دي ، زما لاسو کښې ګُلونه

تهٔ معصومه يې ښائسته يې ، چرته نهٔ شې دَ نظره
ډېرې سترګې درپسې دي ، ګرځوه اوس تعويزونه

بيا دَ زُلفو سردرو ته ، ستا دَ مخ پهٔ رڼا ځمه
ستا يادونه مې ملګري ، ښکلې ؤکړمه سيلونه

دومره مهٔ ګوره اسمان ته ، ډېر غرور به دې نسکورشي
بيا به سر پهٔ ديکه ګرځې ، کهٔ مې وکړل ازارونه

خبر دے ګُل او دَ بلبل نه ، به دَ مينې هُنر زدهٔ کړُو
دَ ګُلشن پهٔ لُوري راشه ، چې نن ؤکړو ديدنونه

خامخا به مې رفيقه ، تاله ستوري وے راؤړي
بې وسې يمه نيولے ، کار مې نهٔ کوي لاسونه

* * * *

www.pukhto.net

شُونډې دې ګُلاب ، زُلفې دې تال جينۍ
خوند کوي پهٔ زنه دې تور خال جينۍ

وواېه دَ زړهٔ حالونه ما ته نن
بيا به درنه نهٔ پوښتمه سوال جينۍ

زهٔ هم دَ بريتونو څُوکې جوړې کړم
تهٔ چې راښکاره شې پهٔ ديوال جينۍ

ځان به ورته تول لوګے لوګے کړمه
وکړه کهٔ پوښتنه مې دَ حال جينۍ

څنګ به دَ رفيق پهٔ خيال کښې نهٔ راځې
تا ورته کتلې دي پهٔ خيال جينۍ

* * * *

خُدايه انسانان يُو پهٔ دُنيا به محبت کوو
زړهٔ چې دې راکړے خامخا به محبت کوو

خلق خو پهٔ مينه کښې بلها منافقت لري
ستا پهٔ سر قسم چې پهٔ رښتيا به محبت کوو

چرته پهٔ زور کلي ابادېږي نه ، کم عقله يار
زړونه به صلاح کړو پهٔ رضا به محبت کوو

دوئ خو غلامان دَ رواجونو وخت دَ سره دي
خلق پرېږده مړې ، ما او تا به محبت کوو

خبر دے کهٔ بنګله نهٔ وي رفيقه زړهٔ دې غټ ساته
زړونو کښې به ؤسو پهٔ صحرا به محبت کوو

* * * *

فقر ، عاجزي ښهٔ وي کچکول ښهٔ وي
ژوند لکه دُنیا کښې دَ بهلول ښهٔ وي

ما ووې دا ښکلي خلق څنګه وي
شیخ ووې چې ښهٔ وي ښکلي تهول ښهٔ وي

جونې له پرده ښهٔ وي چې پېغله شي
فصل چې سمسورشي ورته شپول ښهٔ وي

نهٔ کووم حساب مینه او ذکر کښې
دا سې راته مهٔ وایه چې تول ښهٔ وي

دا سې لکه داغ وي دَ سپوږمۍ پهٔ مخ
خال پهٔ سپینه زنه باندې ګول ښهٔ وي

ګوري دَ یار سترګو ته رفیق وائي
ګُل دَ ګُلاب څهٔ کوې غانتول ښهٔ وي

* * * *

زمونږ نصيب کښې چرته ښهٔ نشته دے
ګنې پهٔ دې دُنيا کښې څهٔ نشته دے

هغه چې حق ئې پهٔ دُنيا کښې خور کړو
دې حق پرسته خلق مړه ، نشته دے

www.pukhto.net

څوک ئې نشو او تماشو کښې نولې
چا کړه يو وخت له اوړهٔ نشته دے

ساقي يو ګوټ دَ مَيئو راکړه کنه
دَ تندې مرم چرته اُوبهٔ نشته دے

دَ وخت ګردونو داسې رُوند کړمه زهٔ
لکه زما هډو لېمهٔ نشته دے

پُښتانهٔ څنګ دَ چا نه حق وٴغواړي
سترګې غوړَونه شته خو خُلهٔ نشته دے

جانان مې داسې پهٔ ژړا رُخصت شو
ښکاري چې زر ئې بيا راتلهٔ نشته دے

نن ئې پهٔ تلو تلو پهٔ ژړا کښې ووې
رفيقه مينې ته مې زړهٔ نشته دے

* * * *

بس څهٔ ئې دراز قد ، څهٔ لنډ قدم دے ، سوزوي سړے
لمبه لمبه ځواني ئې ده قسم دے ، سوزوي سړے

دَ حُسن جادوګره ده دَ زړونو تباهي کوي
عادت ئې اداګانې او ستم دے ، سوزوي سړے

خوَږې خوږې خبرې ئې پهٔ زړهٔ دَ سړي ښې لګي
دا غټې غټې سترګې ئې لوئې غم دے ، سوزوي سړے

تر څو پورې بهٔ ځان ساتم دَ اوره دَ انګاره نه
ګزران مو پهٔ يو کلي پهٔ يو چم دے ، سوزوي سړے

رفيقه شاعري ته دې پهٔ واه واه کښې لوګے شومه
دا اور دې دَ غزل او دَ قلم دے ، سوزوي سړے

* * * *

# دَ لېونو عادت

چې ستا کوڅې لـه درشـم
ولـــې تـــهٔ کـــانې ؤلـــې
څـــهٔ لېـــونے خـــو نـــهٔ يـــم
څـــهٔ لېـــونے خـــو نـــهٔ يـــې
چـــې مـــې پـــهٔ کـــانو ؤلـــې
مـا تـه خـو داسې ښـکاري
يـــا بـــهٔ ئـــې تـــهٔ لېـــونے
يـــا بـــه يـــم زهٔ لېـــونے

زهٔ بـــه يـــم ســـتا لېـــونے
تـــهٔ بـــه زمـــا لېـــونے
چـــې مـــې پـــهٔ کـــانو ؤلـــې
ځکـــه چـــې کـــانې ويشـــتل
ځکـــه پـــهٔ کـــانو ويشـــل
دَ لېونـــــو عـــــادت دے

* * * *

# دَ پښتو پهٔ نُوم

دَ زُلفو دشتې دې سمسورې نهٔ شوې
زما پُښتو، سترګې دې تورې نهٔ شوې
دَ وخت سيلو دربانډې څهٔ څهٔ وکړهٔ
شُونډې دې چاؤدې دې تکورې نهٔ شوې
مونږه دَ وخت نه ستا ښکلا غوښتې ده
زمونږ دَ زړونو جذبې نورې نهٔ شوې
دَ وينو سرهٔ درنه قُربان شه پُښتو
نکريزې ستا پهٔ لاسو پورې نهٔ شوې
کهٔ سرې ګولۍ پهٔ پُښتونخوا وريږې
خو حوصلې زمونږ کمزورې نهٔ شوې
رفيقه خلق پرې شرطونه تړي
خو پُښتنې جونې سرتورې نهٔ شوې
* * * *

هيڅ مې خوښ نۀ دي دَ عزت نه مخکښې
مرګ مې قبول دے دَ غُربت نه مخکښې

زما ارمان پښې لـۀ ځـادره ويسـتې
ښکاري زلمے شولو دَ وخت نـه مخکښې

بس خُلۀ وي چپۀ او ګويا شي سترګې
اوښکې راتوئې شي دَ رخصت نه مخکښې

مُـلا دَ حـورو قيصـې خونـد درکـوي
وايـه نـور څـۀ دي دَ جنت نـه مخکښـې

رفيـق دُنيـا پـۀ سـر اخيسـتې ده خـو
څۀ به څوک وکړي دَ قسمت نه مخکښې

* * * *

www.pukhto.net

مُلاجان پۀ ګډو وډو باندې سر دے
دے دَ مينې دَ قيمت نۀ څۀ خبر دے

نور بۀ څۀ درته دَ ښکلي جانان وايم
زما زړۀ دے زما ساه ،زما نظر دے

ما خو عمر له دَ ګُلو کردے کړے
خو ازغے مې راختلے نن پۀ وَر دے

کله کله مې زۀ لاس کړمه ګرېوان ته
لېونتوبه لا دې پاتې هم اثر دے

هم مې سترګې ژړغونې درته ښکاري
هم ګرېوان زما پۀ اُوښکو باندې تر دے

دَ رفيق دَ شاعرۍ دغه نچوړ دے
کله ګُل ، کله سپوږمۍ ، کله دلبر دے

* * * *

www.pukhto.net

سترګې دې رَپ وهي ډيوې غوندې شي
زما پــۀ زړۀ بَلــې لمبــې غونــدې شــي

دَ غمــو ســترګو بــه دې څــۀ وايمــه
زمــا پــرې زړۀ ارې ارې غونــدې شــي

کله چې سترګو نه څوک زړۀ ته کُوز شي
هلــه پــۀ شُــونډو تــذکرې غونــدې شــي

عاشق دَ مينې سُود او زيـان نـۀ ګـوري
لکــه پتنــګ ايــرې ايــرې غونــدې شــي

رفيقــه ټــول شــي بختــور وختونــه
چې يار مې خواتـه رانـزدې غونـدې شـي

* * * *

چغـه دَ احسـاس بـه خامخـا مـې دَ زړګـي خيـژي
غـم چې راډېريـږي نـو دَ خُلـې نـه اسـويلي خيـژي

تهٔ چې دواړه سترګې رانسکورې کړې راوګورې
درد دِ زړهٔ اودهٔ شي خو نشه مې سر ته ځي خيـژي

داسې چې حـالات راباندې اور شـي لمبه کېږمـه
رنګ به مې توريږي نه ، زما نه چې لوګي خيـژي؟

www.pukhto.net

چرته يو انسان پرې هم دَ مينې لاس راکاږي نه
عمر لـۀ پـۀ دار بانـدې دَ مينــې لېـوني خيــژي

يار راباندې غږ پۀ خپله خُلۀ دَ بل اشنا وکړو
ساه مې دَ پښو لاړه اوس دَ ستوني نه بيخي خيژي

نور دَ ژوند مزل تـه مې مـلا ماتـه ده غورزيږمـه
ځوک به دَ غرۀ سر ته پۀ دې لار دَ ډوغلګي* خيژي

ما لۀ دَ ګُلاب پۀ ځائے لاسونو کښې ازغي راځي
داسې سپېرې دُوړې مې رفيقه لۀ تندې خيژي

* * * *

* زمونږ پۀ کلي کښې يو ډېر دنګ غر دے
چې ورته خاتۀ ډېر ګران دي.

ستا جُدائي دَ اور لمبې دي کنه
جانانه سختې مرحلې دي کنه

زهٔ پهٔ دروغه قسمونه نهٔ خُورم
پهٔ مخ مې سرې اوښکې خوَرې دي کنه

ستا مړوندونه دَ بنګړو نه ډک دي
زما پهٔ لاسو کښې تسبې دي کنه

نوره دَ مينې نشه نهٔ کومه
پهٔ خُلهٔ راغلې مې توبې دي کنه

څهٔ چل خو شته دے چې خاموشه يې تهٔ
جوړې چې يادې دې وعدې دي کنه

دا خپل نصيب مې دومره بد هم نهٔ دے
دا راپسې دَ چا ښېرې دي کنه

تــا بــه زمــا دَ مينــې خونــد کــتلے
خــو رواجونــه فاصــلې دي کنــه

رفيقــه نــن پــهٔ څــهٔ پــرون پــهٔ څــهٔ وه
شُونډې ئې بيا پـهٔ سُرخۍ سرې دي کنه
* * * *

# قطعه

دَ پښـتونخوا پـولې پټې او سمه غـر ګُلونـه
چرته چې ګورم نو راځي مې پـهٔ نظر ګُلونـه

څوک به ګُلزار کړي درله قبر دَ دننې خوا نـه
دَ دُنيـا خلـق بـه پـرې وکـري بهـر ګُلونـه
* * * *

دَ سپين جبين نه دې رڼا خيژي
نشه دَ حُسن دې پهٔ ما خيژي

زهٔ به خاندم تهٔ به ژاړې راته
چې ستا پهٔ غيږ کښې رانه ساه خيژي

ستا ديدار به مې نصيب شي کنه
زما دَ خُلې دَغه دُعا خيژي

مونږ خپله خاوره خپل اختيار غواړو
دَغه نعره دَ پښتونخوا خيژي

ستا غزل چې زهٔ رفيقه واورم
زما دَ خُلې نه ورته واه خيژي

* * * *

جانانــه دُومـــره زهٔ کـــولے شـــمه
نــهٔ دې پرېــږدم ، نــهٔ پرېښــودلے شـمه

چرتـه چـې سـتا دَ نـوم لفظونــه راشـي
قصــه کــوؤم خـو هلتــه غلــے شـــمه

دا ســتا خبــرې رالــه خونــد راکــوي
دَ زړهٔ پرهــر پــرې ښــهٔ داغلــے شـــمه

چې ستا دَ اُوښکو سر چينې وچې کړم
دومــره خــو تــا تــه خند يــدلے شــمه

زهٔ دې لــوګے شـوم دَ هجـران پــهٔ لمبـو
زمـا خـو خيـال ؤ چـې بـه ښـکلے شـمه

پــهٔ محبــت بانــدې ژونــد ے پا يمــه
رفيقــه ســر پکښــې بــائيللے شـــمه
* * * *

ساه مې ده ، سلګۍ مې ده ، ارمان مې دے
ګُل دے کهٔ سپوږمۍ ده کهٔ جانان مې دے

پوهه ئې دَ مینې پهٔ خوَږو کړمه
درد دے کهٔ زړګے دے کهٔ درمان مې دے

نور مې پهٔ دُنیا دَ خوښې هیڅ نیشته
بس یو محبت دے چې خپل ځان مې دے

ځکه ئې نازونه اداګانې وړم
زهٔ ئې یم نوکر دَ حُسن خان مې دے

ستا دَ محبت نه صبریدے نهٔ شم
ښهٔ پهٔ دې پوهیږم چې تاوان مې دے

ما رفیق کړه بله دَ اُلفت ډیوه
اوس پهٔ رڼاګانو کښې ګزران مې دے

* * * *

❁

پهٔ څو وارې مې خُلې له دَ اقرار خبره راشي
ويرېږم ستا پهٔ خُلهٔ به دَ انکار خبره راشي

درد مې زړهٔ کښې پورته شي نظر شي ښکته ښکته مې
چې کله ډک محفل کښې مې دَ يار خبره راشي

هوش مې هلته لاړ شي تصور دې دَ لېمو راځي
بس چرته چې دَ سترګو دَ خُمار خبره راشي

اوښکې توئيدل څو يو وړه غونډې خبره ده
دَ عشق پهٔ انتها کښې څو دَ دار خبره راشي

خپله بې وَسي مې ژبه ګنيسي خاموش شمه
چې کله مې پهٔ زړهٔ کښې هم دَ کار خبره راشي

واړه مئينان به راته تول عُمر دُعا کوي
رفيقه کهٔ دُنيا کښې دَ اختيار خبره راشي

* * * *

چې جانـان زمـا لـهٔ ښـنـده جُـدا کيـږي
خوشـحالي رانـه پـهٔ منـده جُـدا کيـږي

پـــهٔ ګرېـــوان راټولولـــو نـــهٔ پـــوهېږم
چې سـينه مې شوه بربنـده جُـدا کيـږي

ستـا يادونـه مـې اسـره دي راسـره دي
دَ بچـو سـره هـم کونـده جُـدا کيـږي

دا ساعت به زړهٔ چاؤدون نهٔ وي ملګرو
چې جانـان مې لـهٔ ګاونـده جُـدا کيـږي

ما وې اوس دَ ژوند سفر به ښکلے تېر شي
خـو جانـان رانـه پـهٔ لنـده جُـدا کيـږي

نوم ،ناموس ، قام ، قبيله به واړه بائيلي
کـهٔ رفيـق لـهٔ ملاکنـده جُـدا کيـږي

* * * *

## برغیزه

تـهٔ راپسې شوې لېوني هلکـه
واؤره پـــردي هلکـــه
زمـــا نـــه واؤره
پـهٔ تاپسې زهٔ لېـونے هلـک يـم
ښائسـتـه زلمـے هلـک يــم
نـــهٔ قلار يــــږم
بـس کــړه لاسـونه زمـا پرېــږده
درتــه ســوال کوؤمــه
نــور ديدنونــه زمــا پرېـــږده
درتــه ســوال کوؤمــه
تـهٔ مـاتوې رالــه بنګړي هلکـه
واؤره پـــردي هلکـــه
زمـــا نـــه واؤره
لاســونه هلــه دې پرېږدمــه زهٔ
ښـــهٔ واؤره جينـــۍ
اقــرار دَ مينــې بــه اؤرمــه زهٔ
ښـــهٔ واؤره جينـــۍ

www.pukhto.net

پردے خو نهٔ يم دَ دې ځائے هلک يم
ښائسته زلمے هلک يم
نهٔ قلاربږم
اقرار دَ مينې زهٔ کولے نهٔ شم
څهٔ وکړمه
بې وسه يمه څهٔ کولے نهٔ شم
څهٔ وکړمه
زما ده ډېره مجبوري هلکه
واوره پردي هلکه
زما نه واوره
اقرار چې ستا دَ خُلې نه کيږي نهٔ
زهٔ څهٔ وکړمه
ستا نه بغير مې ژوند تېريږي نهٔ
زهٔ څهٔ وکړمه
ساده رفيق يم ديروجے هلک يم
ښائسته زلمے هلک يم
نهٔ قلاربږم
* * * *

www.pukhto.net

دا ريښې ريښې ګرېوان به چرته وړم
در پهٔ در به يم چې ئې بل در ته وړم

شپه پهٔ شوګيرو کښې داسې تېره شي
ټول دَ شپې خوبونه مې سحر ته وړم

زړهٔ مې پهٔ چاؤدود ے اخر څهٔ وکړم
درد مې دَ زړګي به اوس بهر ته وړم

دلته پرې دَ خلقو زړهٔ خُوږيږي نهٔ
زړهٔ به چرته لرې لرې غر ته وړم

هيڅ وئيلے نهٔ شم مجبوري مې ده
ځکه اسويلي دَ شُونډو سر ته وړم

دې نه خو دَ زُلفو خوشبوئي راځي
ګوتې چې رفيقه کوم پرهر ته وړم

* * * *

# سندره

چــا پېره ښــکلاګانې دي زمــونږه دیدنونــه دي
دَ ســترګو خُمارونــه دي ، دَ ســترګو خُمارونــه

تـا تـه پـهٔ خنـدا شـومه تـهٔ مـا تـه پـهٔ خنـدا شـولې
زهٔ هـم وار خطـا شـوم ګُلـې تـهٔ هـم وار خطـا شـولې
دَ سـپین جبـین رڼـا ده او دَ تـورو زُلفـو غرونـه دي

ستا پهٔ سترګو پوئې شوم ، تهٔ زما پهٔ سترګو پوئې شولې
دومره شوې راډکې چې کاسې دَ سترګو توئې شولې
دومـره مسـتانه شُـو چـې اوتـر زمـونږه زړونـه دي

موسـم پـهٔ ختمېـدو دے خـو رفیقـه صبرېدهٔ نشـته
پـهٔ داسې پسـرلي کښـې راتـه وایـه اخر څـهٔ نشـته
شُوندو ته دې خیال دے دا خو ځان له سرهٔ ګُلونه دي

* * * *

جانانه ستا شونډې چې وُچې شوې پاړڅې شولې
دَ ډېره غمه مې پهٔ زړهٔ کښې ښخې غنې شولې

هسې پهٔ خُلهٔ راله وعدې لوظونه څهٔ راکوې
ټولې وعدې دې زما يار ه دروغژنې شولې

زهٔ به ترې ستا دې سپورو زُلفو له غُنچې جوړې کړم
کهٔ مې پهٔ لاره دَ ګُلونو جوړې وُنې شولې

زما پُښتو او ستا وعدې داسې ژوندون تېروي
لکه پهٔ يو کالهٔ کښې دواړه جوړې بنې شولې

رفيقه دا ئې محبت نهٔ دے نو نور څهٔ دې څه!
ګوره چاچې ئې لاندې بيا زما دَ زنې شولې

* * * *

هـــر ماښـــام زهٔ يادؤمـــه ســـتا دَ کلـــي ماښـــامونه
پـهٔ ژړا ورپســې ســر يـم څـهٔ شـو ښـکلي ماښـامونه

هره ورځ راباندې راشي يو ماښام خو خوند ئې نهٔ وي
هـر ماښـام مـې دي غوښـتلي هغـه تلـي ماښـامونه

ستا دَ زُلفو پهٔ تيارو کښې چې سپوږمۍ رڼا رڼا شي
دا سـې چرتـه دي اوس يـاره زړهٔ راښـکلي ماښـامونه

نهٔ ځـلا دَ مېخکي شـته ، نـه دا سـتا دَ خُلې خندا شـته
څنګـه تـش مې پـهٔ نصيب کښـې دي راغلي ماښـامونه

اے رفيقه يار دې تېر کړي ښهٔ ماښام پهٔ کلي کور کښې
پـهٔ پـردېس کښـې خـو تېريـږي غـم زپلـي ماښـامونه

* * * *

www.pukhto.net

ګرځې پـۀ ګُلشـن پسـې صـحرا کښـې لټونيـه
نشـته دے سـکون پـۀ دې دُنيـا کښـې لټونيـه

ټـول عُمـر بـه دغسـې سـتُومانه وجـود ګرځـې
څو چې دې سکون نۀ وي پۀ ساه کښې لټونيه

څۀ شو سکندر ، څۀ شو قارون ، دَ دې دُنيـا نـه
دومـره عقـل نـۀ راځـي پـۀ تـا کښـې لټونيـه

ګرځې بتـې سـترګې دَ دُنيـا پـۀ رنګينو کښـې
ځان نه کړې ورډوب پۀ دې ښکلا کښې لټونيه

رفيقـه هـر عمـل دې ښـۀ تـابع کـړه دَ قـرآن
بيـا ورځـه مـزې کـوه عقبٰـى کښـې لټونيـه

* * * *

www.pukhto.net

# سندره

زهٔ پهٔ ژړا خوشي ډنډر ته ګورم
اوس به دې چرته ګورم
ګلابه څهٔ شوې
زهٔ دَ خزان دې ناکړدو ته حېران
ګلونه نشته دے ازغو ته حېران
خوشې بېديا ده خوشي غر ته ګورم
اوس به دې چرته ګورم
ګلابه څهٔ شوې
زهٔ دَ ديدن يوې لمحې لهٔ راغلم
تا لهٔ نن ستا دَ کور کوڅې لهٔ راغلم
ډېر پهٔ افسوس دې پورې وَر ته راغلم
اوس به دې چرته ګورم
ګلابه څهٔ شوې

www.pukhto.net

تش مې دا ستا پهٔ لور کتلي دي نن
څانګې مې درد زړهٔ کښې سپړلي دي نن
دې خپل زخمي زخمي ځیګر ته ګورم
اوس به دې چرته ګورم
ګُلابه څهٔ شوې
څهٔ غرسنی او لېونی شومه زهٔ
رفیقه ستا نه هم پردی شومه زهٔ
دَ لرې لرې پېښور ته ګورم
اوس به دې چرته ګورم
ګُلابه څهٔ شوې
* * * *

# زما خوږه محبوبه

هـر سـړے مينـه کـوي
هـر سـړے زړهٔ خـو لـري
خوک پهٔ تيارور پسې ځي
شپې هـم اُوږدې خوښـوي
خوک دَ سپوږمۍ رڼا تـه
شـپه شـوګيره کـړي تولـه
خوک لوې سحر خوښـوي
خـوک مـازيګر خوښـوي
خـوک دولتونـه غـواړي
خوک سرهٔ ګُلونـه غـواړي
خوک پهٔ شُهرت پسې ځي

څوک پهٔ عزت پسې ځي
هــر ســړے مينــه کــوي
هــر ســړے زړهٔ خــو لــري
څوک ئې دَ زُلفو خوا کښې
شي پهٔ شيندلو ستړے
څـوک دَ هجـران پـهٔ لمبو
پـهٔ ژونـد کولـو ستـړے
زهٔ هـــم زړګـــے لرمـــه
مينـــه بېســـياره کـــووم
زهٔ هـــم لـــرم محبوبـــه
ډېـره خـوږه محبوبــه
ډېـره ښائسـته محبوبـه
مـا تـه سـکون راکـوي
کلـــه جنـــون راکـــوي
کلـه هجـران هـم راشـي
زهٔ ئـــې ونـــهٔ وينمـــه
هـم پـهٔ کلونـو مياشـتو
کلـه مـې خوالـه راشـي
دَ لطافـــت نـــه ډکـــه
دَ محبـــت نـــه ډکـــه

www.pukhto.net

او بیا پهٔ میاشتو میاشتو
زمـا دَ خـوا نـه نـهٔ ځـي
پهٔ دا سې وخت کښې اکثر
کـهٔ مرغیـژن سـحر وي
کـهٔ مســتانهٔ مــازیگر
زهٔ خپـل قلـم راواخلـم
ډوب ئې پـهٔ وینه کښې کړم
زمــا دَ تــن وینــه کښــې
ښــکلے غــزل ولــیکم
وســـتایم زهٔ محبوبـــه
زمـــا دَ زړهٔ محبوبـــه
چې وي خوشـحاله مـدام
چې وي ژوندۍ پـهٔ دُنیـا
زمـــا خـــوږه محبوبـــه
ډیــره ښائســـته محبوبـــه
زمـــا پښـــتو میرنــۍ
وي بـــه پښـــتو میرنــۍ

❋ ❋ ❋ ❋

تـهٔ خـو پـهٔ زړهٔ کښې نـهٔ لـرې محبت
هسـې پـهٔ خُلـهٔ بانـدې کـوې محبـت

زمــا جــونګړې تــه راپېښــه وکــړه
چې درنـه هېـر شـي دَ بنګلې محبـت

تر څوچې ساه مې پهٔ وجود کښې زغلي
زهٔ بــه کوؤمــه تــر هغــې محبــت

ما خو وې ګُل دے خوشبوئي به راؤړي
راؤړې دَ ځــان ســره لمبــې محبــت

ګــوره پــهٔ زَرو بانــدې ځــان بـدلوې
داسې خـو نـهٔ کـړي پُښـتنې محبـت

رفيقــه تــهٔ دَ ځانــه څـهٔ خبـر يــې
پــهٔ مــا دې وکړلــې کــانې محبــت

* * * *

www.pukhto.net

# دَ طالب اُستاد پۀ مړینه

یادګېرنه

طالب اُستاد زمونږ دَ جماعت امام صاحب ؤ ، دَ
هغوئې شخصیت سره دَ سپیځلې مینې لۀ کبله
مې دا نظم ولیکلو

څــومره پرهیزګــاره بختــور زمــونږ امــام ؤ
مرګ ئې پۀ نصیب هم دَ جمعې پۀ شپه ماښام ؤ
مـخ ئـې دَ قبلې پـۀ لـوري پـروت پـۀ احتـرام ؤ
عقــل دِ هــر چــا ورتــه حېـران ولاړ پــۀ بـام ؤ
غــم دَ ټـول اولـس ؤ دَ ټـول کلـي دَ ټول قـام ؤ

امــام یــوائې نــۀ ؤ ښــۀ رهبــر ؤ ښــۀ اُســتاذ ؤ
پوهــه دے دِ ژونــد دَ تېرولــو پــۀ هــر راز ؤ
طبیعت ئې مینه ناک ؤ زړۀ راښکونکے ئې اواز ؤ
خبـرې ئـې خـوَږې وې لـوې اثـر ئـې دَ انـداز ؤ
افســوس پــۀ دې خبـره چـې یـو دم دَ دۀ پـرواز ؤ

دَ لویــو ســره لــوئې ؤ دَ وړو ســره ماشــوم ؤ
مـزاج او طبیعیـت ئـې دومـره نـرم لکـه مـوم ؤ
دَ ژونــد دَ تېرولــوهر یــو راز ورتــه معلــوم ؤ
ښـکلې ئـې ځهره وه ښـکلے ښـکلے شـان ئـې نـوم ؤ
انســان ؤ ښـهٔ انســان ؤ بې ګنـاه ؤ دے معصـوم ؤ

آذان دَ جماعت نه به ئې خور شولو پهٔ غرونو کښې
تر اوسه ئې اواز راځي زمونږه پـهٔ غوږونو کښې
نهٔ راځي یقین دَ دهٔ دَ مرګ زمونږ پـهٔ زړونو کښې
راځي مې وار پهٔ وار پهٔ منډه منډه پهٔ خیالونو کښې
وُسیږي به تر عُمره دے دَ خلقو پـهٔ ذهنونو کښې

دَ ژونـد سبق ئې راکړو پهٔ ښهٔ لاره ئې روان کړم
پهٔ مرګ چې مې لیدلے وے پهٔ دې پسې ارمان کړم
چې دهٔ پسې ژړېږم لوند پهٔ اُوښکو مې ګرېوان کړم
الفـاظ راسره نشـته چـې خـوبۍ دَ دهٔ بیـان کـړم
دُعـا ورتـه کوؤمـه مـخ پـهٔ لوري دَ اسمان کـړم

* * * *

www.pukhto.net

یاره زور دَ خاموشۍ وي ډېر لۀ شوره
دَ زړۀ حـال دې راتــه ووایــه پــۀ زوره

پــۀ ظـاهره خـو خنـد ېږم سـتا دَ پـاره
پـۀ سینه کښـې مـې پرهـر دننـه ګـوره

ستا دَ مینې تاؤ مې پورې پۀ زړګي شو
راشـه لـږه مـې سـینه خـو کـړه ټکـوره

www.pukhto.net

ستا غمونه پرې اخته دي زما یاره
دا ځواني مې ویلې کیږي بې لۀ اوره

دَ مئینو زړونو ثلـه ازار اخلې
لړې سترګې غړوه دَ سترګو توره

ستا غرور ئې دَخودۍ لۀ زوره مات شو
نن رفیق ته پۀ پښو پرېوتې نسکوره

* * * *

# قطعه

ګېر چاپېر نظر پۀ زمانې ساته
خیال دَ لُوټې دي پُښتنې ساته

پام کوه ډېر شَوي دي رندان ساقي
پورې ګورے وَر دَ مېخانې ساته

* * * *

غم به دَ روزګار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه
نور به زهٔ خپل کار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه

حق پهٔ ما دَ مور دے ډېر ، حق دَ خپلې خور دے ډېر
غم به مې دَ پلار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه

اوس به غم ښادي کوؤم ، غم دَ خپل پردي کووم
تپوس به دَ بيمار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه

نور خدمت دَ قام کوؤم ، عشق ته دې سلام کوؤم
تا ته نور انکار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه

لرې مې منزل دے ډېر ، سوچ زما بدل دے ډېر
مزل پهٔ خپله لار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه

شعر دَ پښتو ليکم ، رفيق ئې پهٔ سلګو ليکم
پښتو لهٔ ترېنه هار کوؤم ، ياره تهٔ خپل کار کوه

* * * *

www.pukhto.net

PUKHTO.NET

# دیر

دَ ملاکنډ نه تر کوهستانه پورې
لکه سپرلے دے غوړیدلے پهٔ دیر
دلته دَ زمکې نه اسمانه پورې
خومره ښائست الله ویشلے پهٔ دیر

دَ شــیرینګل کــهٔ دَ پــاتراک غرونــه دي
صـفا صـفا دي څـومره پـاک غرونـه دي
تــا کـــهٔ دَ دې رنګینـــۍ زور ولیـــدو
اوتــر اوتـر بـه شـې کـاواک غرونـه دي

پـهٔ دې دره کښــې چـې کُمـراټ یـادیږي
واللّٰه چـــې دا ځــائے دَ کتـــو دے کنـــه
لکــه فطـرت چـې پــټ پټـوني کـوي
دَ ســـحر نمـر پـــهٔ راختـــو دے کنـــه

دَ بـــراول بانـــډۍ پـــهٔ لـــوري راشـــه
لکــه فطـرت ســړي تــه ګـوري راشـه
لــږه مسـتي دې خـوار زړګـي لـه ورکـړه
دلتـه کښـې شـنهٔ فصلونه شـوري کنـه

دَ دیـر نـه واخلـه تـر کابـل خـور شـوے
نــرے نــرے شــان بــراول خــور شــوے
نـــرۍ اوږدې تـــورې درې دي دَ دیـــر
لکـه دَ پېغلـې تـور وربـل خـور شـوے

دَ سیند اُوبهٔ رڼې رڼې وګوره
دَ عُشیرۍ درې منې وګوره
دلته تر اوسه پخوانۍ نخښې دي
دا دَ نواب دَ وخت پڼې وګوره

کله چې غرونه شي پهٔ واؤرو کښې پټ
لکه چې ناوې سپینه سپینه ښکاري
تا ته به څهٔ صفت دَ دیر کوومه
خدائیګو چې دا سیمه رنګینه ښکاري

سرے چې سېل دَ پاریال وکړي کنه
پهٔ دنګو غرونو کښې سلینۀ ته لاړ شي
دَ دیر ښکلا ته چې خیال وکړي کنه
لکه سرے چې سویزرلینډ ته لاړ شي

دلته زاړهٔ نوي حالات وګوره
بره پهٔ غرونو غرونو سوات وګوره
پهٔ تېره تېره واړۍ ، خال ته راشه
خوږې مالتې هم دَ رباط وګوره

چې باجوړ ته ځې پۀ لاره راځې
ښکلے ئې نوم ښکلے مېدان دے کنه
ښائست جندول او پۀ معیارو کښې دے
هم ثمر باغ یو ګُلستان دے کنه

پۀ تېمرګره دیر چترال ته لاړ شه
دلته فطرت ښۀ دَ نزدې وګوره
چې پېښور ته یا دَ مردان ته راځې
پۀ لاره پُل دَ چکدرې وګوره

څۀ عجیبه ښکلے جوړ شوے دے دیر
خواره ښاخونه اوږدې زېلې لرې
دلته کښې قام دَ پُښتنو ؤسېږي
تاریخ ئې ښار ئې هم دَ بټ خېلې لرې

چرته به دا سیمه بربنډه نۀ شي
اغیار به تېر لۀ ملاکنډه نۀ شي
تۀ هم ملا وتړه پُښتو ؤساته
رفیقه ساه دې لنډۀ لنډه نۀ شي
* * * *

# نيمګړے تصوير

دا نظم ما انګلينډ کښې دَ خپل ملګري
ښاغلي عرفان خان پهٔ کمره کښې اويزان پهٔ
يو تصوير ليکلے ؤ. دا تصوير دَ عرفان او دَ
هغه دَ ورونړو ؤ. يو ورور چې نوم ئې کامران
ؤ، څوک چې پهٔ ډېره کچه ځوانئ کښې دَ
سړک پهٔ يوه حادثه کښې وفات شوے ؤ،

څلور ګُلونه پهٔ يو فريم کښې بند وو
ښکلے ترتيب ښکلے منظر ؤ پکښې
چې پهٔ کتو به پکښې ډوب شو سړے
داسې غمګين غوندې اثر ؤ پکښې
دغه ګُلونه وو خپل ورونړه داسې
دغه وو ورونړه بس ګُلونه داسې

چې ئې ښائست ۇ دَ يو بله سيوا
لکه دَ ستورو ئې مخونه داسې
مکښې يوسف ناست ۇ نعمان ئې خوا کښې
وروستو کامران ولاړ عرفان ئې خوا کښې
دغه وو ورونړه بس ثلور ګُلونه
لکه سپرلي کښې وو سمسور ګُلونه
اخر خزان چې پهٔ دې لوري راغے
لکه دَ ګُل کامران ئې خاؤرې کړلو
دومره ناترسه وه حمله دَ خزان
لکه غندل کامران ئې خاؤرې کړلو
دَ وړو سترګو نظرونه وو ډېر
ګنې نور هم داسې ګُلونه وو ډېر
قدرت پهٔ خپله دُنيا ښهٔ پوهېږي
ګنې زمونږ خو ارمانونه وو ډېر
زهٔ ګيله مند دَ تقديرونو نه شم
لکه دَ ګُل غوندې کامران چې اخلي
پهٔ ما نور نهٔ تېرېږي وخت پهٔ دُنيا
داسې بې وخته امتحان چې اخلي
دغه تصوير چې يو پوره تصوير ۇ

www.pukhto.net

دغــه تصــویر دے اوس نیمګــړے تصــویر
داســـې کـــامران دَ ګُلـــو لـــرې لاړو
لکــه چــې مــا نــه وي چــا وړے تصــویر
ځکه مې خپل قلم پۀ اوښکو لوند کړو
ځکـــــه دَ غـــــم دا تصــــــویرونه ژاړم
دَ خلقـــو ســـترګې وړې وړې شـــولې
دَ بـــــدو ســـــترګو نظرونـــــه ژاړم
بـــس دا دُعـــا دَ زړۀ دَ تلـــه کـــوؤم
پـۀ یـو ځـل نـۀ پـۀ څـو څـو ځلـه کـوؤم
الله دې بیـــا داســـې ســـپرلے راولـــي
چـې پکښـې داسـې ګُـلان وتـوکیږي
دغـه ارمـان بـه مـې پـۀ زړۀ کښې ووسـي
دغــه کــامران خــو بــه ونــه تــوکیږي

* * * *

# دَ ارمان سترګې

څومره دې پهٔ مينه باندې لوئې کړمه
مورې پهٔ هر ښکلي کار دې پوئې کړمه
تا خو وې چې ځوے به مې تعليم وکړي
بيا به نوکري کوي پهٔ کور به وي
بيا به خوشحالي ئې دَ وادهٔ وينم
ناوې به راځي او تنګ تکور به وي
زهٔ پهٔ دې کوشش کښې لګيدلے وم
چې ستا دَ ارمانونو سترګې تورې کړم
خو داسې تورې نهٔ شوې لکه څنګه چې
تا به ماله ډکې ډکې تورې کړې

ستا دَ ارمانونو پهٔ تکل کښې ؤم
ښهٔ تعليم يافته شومه نوکر شومه
خو ستا دَ ارمان سترګې سپينې پاتې شوې
چې زهٔ دَ کوره لرې مسافر شومه
دا خو دَ وطن نظام دَ ظلم دے
ماله ئې بس دومره څهٔ هم رانهٔ کړه
ما لهٔ ئې يو خَس رانجه هم رانهٔ کړه
چې ستا دَ ارمانونو سترګې تورې کړم
زهٔ پهٔ دې وطن باندې نور څهٔ کوؤم
ما لهٔ ئې هيڅ کله ښهٔ هم رانهٔ کړه
تا پهٔ سرهٔ ډولۍ کښې ناوې رانهٔ وړه
زهٔ درنه هم لاړم مُسافر شومه
خو خبر دے خفه کېږه مهٔ زما مورې
زهٔ به خپل همت دغسې ځوان لرم
مونږ سره کهٔ ژوند لږه وفا وکړه
زربه خپل وطن ته تاله راشمه
ډکه به رنجړومه دَ رانجو راؤړم
چې ستا دَ ارمانونو سترګې تورې کړم
* * * *

## کال بدل شي

نوے کال شروع شي
اُميدونه راسره شي
دَ رڼا دَخوريدلو
دَ تيارو دَ تختېدلو
دَ منزل پهٔ لوري زغلم
زهٔ قدم ږدمه پهٔ مخکښې
خو دَ خپو مې زمکه تختي
پهٔ ببرته راگزار شم
يو قدم مې بدل نهٔ شي
منزل وي رانه لرې

منزل مې پوره نۀ شي
وخت بدل شي
ورځ بدله
کال بدل شي
مياشت بدله
خو قدم مې بدل نۀ شي
منزل وي رانه لرې
مزل مې پوره نۀ شي
لږ کښېنمه ساه واخلم
سر ښکته کړم ګرېوان ته
خپل قسمت ته پۀ ژړا شم
کله سر چې کړم راپورته
نو چاپېره يو بدلون وي
وخت بدل وي
ورځ بدله
کال بدل وي
مياشت بدله
خو ليک مې دَ تندي هم
هغسې کوږ پاتې وي

* * * *

خوښــه مــې دَ زړهٔ ،دَ حيــا ډکــه پُښــتنه ده
خلـق ئــې لا څــهٔ کــوې ، دا زمکــه پُښــتنه ده

دې خاؤرې خوشحال او باچا خان دي زيږولي
خــوښ ئــي پښــتانهٔ دي نــو دا ځکــه پُښــتنه ده

دلتــه پــهٔ هــر لــورې پُښــتو ګــټلے جنــګ دے
مــونږه يُــو بــې قــدره مــونږ نــه ورکــه پُښــتنه ده

دلتــه ګُــل درې ډېــرې ، هــم دلتــه پســرلې ډېــر
ګُـل غونـدې ښائسـته ده هـم نازکـه پُښـتنه ده

مونږ ټوله دُنيا کښې پُښـتو ژبې پُښـتانهٔ کړو
هـر څـو کـهٔ سـاده ده ، خـو بـې شـکه پُښـتنه ده

مـونږ تـه خـو رفيقـه ټـول پـهٔ ټولـه يـو جنـت دے
ولــې کــهٔ اغيــارو تــه نــن ســپکه پُښــتنه ده

* * * *

www.pukhto.net

نن پانې پـهٔ پالنـګ کښې دَ ګُلاب ځنګه خوَرې دي
نغمې پـهٔ ماښـامې کښـې دَ ربـاب ځنګـه خـوَرې دي

سکڼے غوندې ماښام ؤ ، توره شپه شوه بيا سحر شو
چپـې مـې لا دَ اُوښـکو دَ سـېلاب ځنګـه خـوَرې دي

چې ځنبلې مې وو هاغه ستا دَ سترګو پهٔ کاسو کښې
قيصـې دې لا تـر اوسـه دَ شـراب ځنګـه خـوَرې دي

ښکارېږي چې اولس مې دَ خپـل حق کوي غُوښـتنه
خبــرې پـــهٔ وطـــن دَ انقـــلاب ځنګـــه خـــوَرې دي

ښــکارېږي لېـونے شَـوې دَ رفيـق غـزل دې وَشـلَوؤ
صفحې ئې پهٔ کوځهٔ کښې دَ کتـاب ځنګه خوَرې دي
* * * *

# تهٔ چې راغلې پسرلے شو

## (یادګېرنه )

دا نظم زما پهٔ دویم کتاب " پهٔ اورونو کښي ګُلونه " کښې چاپ شوے ؤ دَ دې کتاب دویم چاپ کښې مو دې کښې شامل کړو. زما یو شاګرد "فاروق سید " چې پهٔ کیوبا کښې دَ میډیکل سټوډنټ وو، راته اې میل ئې وکړو چې پهٔ دې عنوان باندې څهٔ اولیکم،دا نظم مې اولیکو او هم هغهٔ تهٔ ئې ډالۍ کووم۔

تهٔ چې راغلې پسرلے شو
خزان تختي لېونے شو
ستا نهٔ مخکښې دلته نهٔ وو
پهٔ موسم کښې دا رنګونه

بس دَ مرګ پهٔ خوب اودهٔ وو
ګودرونه ، چینارونه
هر یو شے پیکه پیکه ؤ
لکه ساه تړې وه وَتلې
دَ هر چا زړګے خفه ؤ
اوښکې اوښکې توئیدلې
نهٔ نسیم وئیلې سندرې
نهٔ اواز دَ ابشارونو
نهٔ دَ مینې وې خبرې
نهٔ مستې دَ سِوو زړونو
دَ ژوندون باغ تول تالا ؤ
پکښې نهٔ وو سرهٔ ګُلونه
بُلبلان پهٔ چغو سر وو
بس کول ئې فریادونه
نهٔ ؤ نهٔ ؤ مخکښې نهٔ ؤ
دَ وختونو څهٔ خوند نهٔ ؤ
هر سحر ئې مړغېژن ؤ
مازیګر کښې لمبې نهٔ وې
بې مَزې به به هر دیدن ؤ
پهٔ نظر کښې لمبې نهٔ وې

www.pukhto.net

خو چې راغے ستا نه مخکښې
ښکلے خبر ستا دَ راتللو
هر یو شي کښې ساه پېدا شوه
پهٔ ورو ورو به ویښېدلو
او چې راغلې پسرلے شو
هر نظر مُسکے مُسکے شو
ښه سترګه هر شي وکړه
پهٔ مستۍ کښې هر سړے شو
سرهٔ لمبه شو ګودرونه
پهٔ ګډا شو چار چاپېره
چنارونه نخترونه
جینکو لارو کوڅو کښې
اوو هل ښهٔ تمبلونه
هر ځلمي ټپې شروع کړې
هم مارغان ټول پهٔ چغا شو
لوئې وړهٔ کهٔ ښځې نر وو
ټول پهٔ ټوله پهٔ خندا شو
نهٔ ماښام کښې هغه غم ؤ
نهٔ دَ شپې هغه ماتم ؤ
اوس بدَله هم سپوږمۍ وه

او دَ نمر رنګ بدل ؤ
زندګي دَ ازادۍ وه
دَ یو بله زاریدل وو
ځکه وایم سترې مهٔ شې
سترې مهٔ شې ، سترې مهٔ شې
پخېر راغلې ازادۍ ته
تهٔ چې راغلې پسرلے شو
تا لیدلے دلته نهٔ شي
خزان تخښتي لېونے شو

****

www.pukhto.net

# يادګيرنه

دا کتاب پهٔ اول ځل دَ رفيق صادق تخلص سره پهٔ ۲۰۰۷ء کښې چاپ شوے او څهٔ کلامونه ترې سندرغاړو دَ صادق پهٔ نوم کمپوز کړي هم دي - دَ ۲۰۰۸ء نه پس ما خپل ادبي نوم دَ رفيق صادق پهٔ ځائے رفيق يوسفزے شروع کړو -

**مننه**

www.pukhto.net